# الرسالة

Al-Risala



شپږمه ګڼه – جون، ۲۰۲۵ ز

Ketabton.com

«نفرت ځان سره نفرت راوړي او د مینې په ځواب کې مینه راځي. په همدې سبب اسلام دا طریقه ښودلې ده، چې له چا نه چې تېروتنه ووینئ، نو د حکمت او محبت په ژبه یې پوه کړئ، هغسې چې یو پلار خپل زوی پوهوي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

# الرسالہ

# Al-Risala

## شپږمه ګڼه – جون، ۲۰۲۵ ز

سرپرست: مولانا وحيدالدين خان

ژباړه: رحمت شاه فراز

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په دې ګڼه کې


| | |
|---|---|
| انسان تل يو ځواب مومي | ۱۰ |
| د اسلام پېژندنه | ۱۵ |
| مثبت کار ته اړتيا ده | ۱۹ |
| صلاة التسبيح | ۲۴ |
| اچاريه رج نيش د محمدص په اړه څه وويل؟ | ۳۵ |
| په فکر سره ژوند وکړئ | ۳۷ |
| اسلام دنيا ته څه ورکړل؟ | ۴۱ |


او نور ډېر څه...

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حدیث

((خیر الاصحاب عندالله خیرهم لصاحبه وخیر الجیران عندالله خیرهم لجاره.))

(ترمذی)

ژباړه: د خدای په نزد تر ټولو غوره ملګری هغه دی، چې د خپل ملګري لپاره تر ټولو غوره وي او د خدای په نزد تر ټولو غوره ګاونډی هغه دی چې د خپل ګاونډي لپاره تر ټولو غوره وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مړ سیند

**په خپل نوعیت کې یوازنی سیند دی؛**

**یــــو عبرتنـــــاک داســـــتان هـــــم دی او یـــــوه طبیعـــــي عجوبـــــه هـــــم**




ډېرې هغه پېښې چې په علمي نړۍ کې مازې د جغرافیوي یا ساینسي څېړنو موضوعات انګېرل کېږي، د خدای په نزد خدایي نښې نښانې (ذاریات: ۲۷) دي. په دې پېښو کې د خلکو لپاره عبرت دی. هغه خلک چې نن ورځ د عزت یا خوشحالي په یوه متاع باندې غره دي، دغه خلک باید د هغو خلکو له انجام نه پند واخلي، چې د دوی په څېر عزت او خوشحالي یې لرله، خو غرور او لویي یې وکړه، او ځان یې د کایناتو د واکمن له اطاعت نه ازاد وانګېره. او پایله یې دا شوه، چې له تباهي سره مخ شول.

له هغو نښانو څخه یوه نښه هغه ده، چې مړ سیند (Dead Sea) یې بولي. دا سمندرګی د شرقي اردن او د فلسطین په منځ کې له شمال نه جنوب ته غځېدلی دی او تر پلنوالي یې اوږدوالی شاوخوا پنځه چنده ډېر دی. څېړنو ثابته کړې ده، چې جنوب خواته د دې سمندرګي لویه برخه تر څلور زره کاله مخکې پورې په اصلي سمندرګي کې نه وه شامله او وروسته د دې سمندرګي برخه شوه. دا سیمه د لرغوني دنیا خورا زرغونه او اباده سیمه وه، چې په بایبل کې ورته «د سدیم دره» ویل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بابيل د بيان له مخې «دا سيمه، مخکې لـه دې چې خدای د سدوم او عموره سيمې تباه کړلې، د الهي باغ (عـدن) او مصر ـ پـه څېـر ښـې زرغـونې او ښـادې وې.» (پيدايښت ۱۳: ۱۰) په همدې سديم دره کې د هغه وخت د متمدنې نړۍ لوی، لـوی ښـارونه سـدوم، عمـوره، آدمـه، صـنبوئيم او ضُـغر واقـع وو. همدلتـه د وخـت يـو زورور او پرمختللی قوم، قومِ لوط اباد و. دې خلکو ظلم او فساد ته لمنه ووهله. پايله يې دا شوه، چې د خـدای قـانون راګيـر کړل. دا ټوله سيمه يوې خطرناکې زلزلې له خاورو سره يوه کړه، په سيمه د مړه سيند اوبه راغلې او اوس يـاده سيمه له خپلو ټولو اثارو سره تر ککړو اوبو لاندې پټه ده.

معاصرې لرغونپوهنې ښودلې ده، چې په دې سيمه کـې د حضرت ابراهيم عليه السلام په زمانه کـې ډېـر زبردست توپان راغلی و. د اوبو په تل کې اوس هم د ښارونو نښـې موندل شوې دي.

د منځنيو پېړيو ګرځندويانو ليکلي وو، چې د مړه سيند پر سر کومه مرغۍ نه الـوځي، پـه دې چـې د دې سـيند هـوا زهرجنـه شـوې ده. دا سـمه ده، چـې د غـازونو د پرلپسـې اخراج له لاسه د دې ځای فضا ډېره بوينه وي. خو هغسې چـې معـاصرو څېړونکـو ويـلي دي، چـې دې سيمې تـه د مرغانو د نه تلو علت دا دی، چې په مړه سيند کې ماهيان نشـته او د نباتـاتو کومـه نوعـه پـه نـوم هـم نـه پـه کـې زرغونېږي.

مړ سيند د نړۍ تر ټولو ډېره د تـروو اوبـو ذخيـره ده. نـور بحرونه چې څومره تروه وي، د هغو په پرتله مړ سيند شـپږ ځله ډېر مالګين دی. ياد سيند شاوخوا ۵۰ ميله اوږد او له ۳ نه تر ۱۰ ميله پورې پلن دی. په ټولـه کـې د دې سـيند مساحت ۴۰۵ ميله مربع ده. د اردن سيند او له نـورو چينـو هره ورځ شـاوخوا ٦٥ لکـه ټنـه خـوږې اوبـه دې سـيند تـه ورتوييږي. خو د مـړه سـيند د ډېـرې تـودوخې لـه لاسـه دا ټولې اوبه د بخاراتو په بڼـه الـوځي او د سـيند تريـوالی نـه کمېږي. د دې سيند اوبه دومره ټينګې دي، چې انسان په اسانه پرې ښـويېدلی شي، او ډوبـولی يـې نـه شي. د دې وجه دا ده، چې په مړه سيند کې جامده ماده مثلاً مالګـه، جپسم، پوټاشيم، مګنيشيم او داسې نور ۲۵ سلنه ګډ دي. خو په نورو عادي بحرونو کې يې کچـه يـوازې درې سـلنه وي.

# دا و اســــــلامي خــــلافت

(مولانا محمد تقي اميني)

دوهـم خليفـه حضـرت عمـر رضي الله عنـه د اسـلامي خلافـت مسـؤليتونه پـه دې ټکـو کـې روښـانه کـړي دي: «**ومات كلب على شاطى الفرات جوعا لكان عمر مسؤلاً يوم القيمة**.» ژباړه: که د فرات سيند په غاړه (دومره لرې سيمه کې هم) يو سپی له لوږې ومري، نو د قيامت پـه ورځ يـې له عمر رض نه پوښتنه کېږي.

بل ځای کې يې فرمايلي: «**لوتركت عنز جدباء الى جانب سـاقية لـم تـدهن لخشـيت ان اسـئال عنهـا يـوم القيمـة**.» ژباړه: که د سيند پـه غـاړه خاربښـت لړونکـې اوزه پـه داسـې حال کې پاتې شي، چې (د علاج لپاره) د تېلـو مسـاژ ونـه مومي، نو وېرېږم چې د قيامت په ورځ به يې له عمـر رض نه پوښتنه وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عمر د اسلامي قلمرو ټول وګړي د حقونو او ملکي قوانینو له مخې یو برابر کړل. د قوم، نسل، ذات، توکم، رنګ، ژبې او نړۍ لید په اساس یې هیڅ تعصب او وېش ته ځای ورنه کړ، هغسې چې د «اساسي قانون» له لاندې مادو نه ښکاري:

**۱) د مسلمان او نامسلمان د وینې مساوي دیت.**

**۲) په تعزیراتو کې دواړه برابر دي یانې د جرایمو کومه سزا چې مسلمانانو ته ورکول کېږي، هغه به نامسلمان ته هم ورکول کېږي.**

**۳) په مدني قانون کې به دواړه برابر وي.**

**۴) نامسلمانانو ته هر ډول تکلیف رسول، ان پسې شا یې بدي بیانول هم قانوني جرم دی.**

**۵) د نامسلمانانو د عزت او ابرو به هماغومره ساتنه کېږي، څومره چې د مسلمانانو د عزت او ناموس ساتنه کېږي.**

عمر بن سعد رض د حمص حاکم و او په زهد او تقوا کې یې له ټولو چارواکو میدان ګټلی و، یو ځل یې د یوه نامسلمان لپاره له خولې دا کلمه ووته: «**اخزاک الله**» (خدای دې تا رسوا کړي)

په دې خبره دی دومره خجالت شو، چې حضرت عمر رض ته راغی او له خپل منصب نه یې استعفا واخیسته او ویې ویل چې «د همدې ملازمت له امله دا کار رانه وشو.»

عمر د هر قوم او هېواد مذهب او کلچر په خپل حال پرېښودل او د نامسلمانانو چارې یې د هغوی د مذهبي طریقې او دود و دستور مطابق پرېښودې.

ابو عبیده رض وایي: «**اقر اهلها فیها علی مللهم وشرائعهم.**» ژباړه: د مفتوحه هېوادونو اوسېدونکي یې له خپل مذهب او دود و دستور سره پرېښودل.

بل ځای راغلي: «**فهم احرار في شهاداتهم ومناکحاتهم و مواریثهم وجمیع احکامهم.**»

دوی ټول په خپلو شاهدیو کې، د نکاح او میراث په قانون کې لنډه دا چې په ټولو قواعدو او قوانینو کې ازاد وو. په دې زمانه کې یوه نسطوري پادري د خپل خوندیتوب په اړه لاندیني تاثرات لیکلي دي: «دا طایي (عرب) چې نن ورځ خدای حکومت په لاس کې ورکړی دی، هغوی زموږ واکمن هم دي. خو هغوی له عیسوي مذهب سره هیڅ کار نه لري، بلکې د دې برخلاف زموږ د دین ساتنه کوي، زموږ د پاپانو او مقدسو خلکو درناوی کوي او زموږ کلیساوو او چرچونو ته ځمکې راکوي.»

پروفیسر واکر د «**قانون بین الممالک**» تاریخ کې لیکي چې «په متمدنو او مهذبو واکمنیو د وحشي قبایلو یرغل وروړل او د فتحې په صورت کې واک او سلطنت په لاس کې اخیستل د تاریخ یوه عادي پېښه ده، خو د المانیانو، تاتاریانو او داسې نورو وحشي قبایلو بالعکس عجیبه خبره دا ده، چې د عربو کوچیان چې کله له خپلې صحرایي وچې نه دنیا ته راووتل، نو دغه عربي فاتحین په هېڅ ډول هم د عمومي تصور له مخې د وحشي فاتحینو په کتار کې نه شو درولی، په دې چې په دې وحشي کوچیانو کې له اولې ورځې نه لا له خپلو مفتوحینو نه هم ډېر تهذیب او غوره اخلاق تر سترګو کېږي.»

د کلیسا د تاریخ او جغرافیې په یوه قاموس کې یوه رومي کاتولیک پادري لیکلي دي: «یعقوبي عیسویانو هم د خپلو ژغورونکو په توګه د مسلمانو عربانو ډېر تود هرکلی وکړ. د مسلمانانو تر ټولو مهم ابتکار چې یعقوبي عیسویانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې له زړه نه هرکلی وکړ، دا و، چې مسلمانو عربانو د هر مذهب پيروانو ته بشپړه خپلواکي ورکړه او د هغوی مذهبي مشرانو ته يې په لوی شمېر دنيوي او حکومتي اقتدارونه ورکړل.»

نامسلمانان يې په ملکي چارو کې شريک او دخيل کړل.

**«کتب عمر بن الخطاب الی اهل الکوفة يبعثون اليه رجلا من اخيرهم واصلحهم و الی البصرة کذلک و الی اهل الشام کذلک.»**

حضرت عمر رض د کوفې، بصرې او شام خلکو ته وليکل چې په خپل منځ کې غوره او د صلاحيت خاوندان ماته راپه ګوته کړئ.

دغه راز زياتره پخواني نامسلمان افسران د ځايي اوسېدونکو د خوښې له مخې په خپل حال پرېښودل شول او د حکومت د مزاج له بدلېدو وروسته هغوی ټولو د ظلم او ستم له لارو مخه واړوله. علامه مقريزي رح فرمايي:

**فکانت جبايتهم بالتعديل** يانې د دې افسرانو راکړه ورکړه له عدل او انصاف سره برابره شوه.

**(د اسلامي امت لارښوونه)**

# حضرت عمر رض وفرمايل

«ان کثيرا من الخطب من شقاشق الشيطان.» **ژباړه: زياتره خطبې (وعظونه) له شيطاني هيجان نه وي.**

**شقاشق د (د شقشقه جمع) هغه ځګ ته وايي، چې د مستي په وخت کې د اوښې له خولې راوځي، نو شاه‌ولي الله رح وايي چې:**

**هغه کس يې له شيطان سره تشبيه کړی چې خپله خبره اوږدوي او د صدق او کذب پروا نه کوي.**

**حضرت عمر رض به پخپله د قصابي دوکانونو ته تشريف ووړ او څوک به يې چې دوه ورځې پرلپسې د غوښې په خريداري وليده، نو په درو به يې سزا ورکوله.**



«فاذا رای رجلا اشتری لحماً يومين متتابعين ضربه الدرة.»
**ژباړه: چې وبه يې ليدل، يو کس دوه ورځې پرلپسې غوښه رانيسي، نو په درو به يې واهه. او فرمايل به يې چې:** «الا طويت بطنک لجارک و ابن عمک.» **ځان دې د خپل ګاونډي او د تره زوی لپاره ولې وږی پرې نه ښوده؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# انسان تل یو ځواب مومي

د عثمان بن عفان له شهادت وروسته علي بن ابي طالب خلیفه وټاکل شو. د ټولو اسلامي هېوادونو ولسونو له حضرت علي سره بیعت وکړ، یوازې شام پاتې شو. په شام کې معاویه بن ابي سفیان د حضرت عثمان رض د انتقام غوښتنه کوله او له څلورم خلیفه سره یې د سولې ټول وړاندیزونه رد کړي وو.

بلاخره د صفین په سیمه کې د علي او معاویه رض د لښکرو ترمنځ نښته راغله. ټولو قراینو او دلایلو د دې خبرې پخلی کاوه، چې په دې برخه کې علي بن ابي طالب په حقه دی. تر دې چې د جګړې په وخت کې ځینې داسې واقعات هم پېښ شول، چې د صریح نص له مخې یې د حضرت علي د حقانیت پلوي کوله. مګر له مخالفې ډلې سره د الفاظو کمی نه و او د هرې دغسې خبرې د تردید لپاره یې ځواب پیدا کړی و.

د څلورم خلیفه په ملګرو کې چې کوم کسان ووژل شوو، د هغو په ډله کې یو صحابي عمار بن یاسر هم و. دی نوي کلن شوی و، خو له ډېر عمر سره، سره یې هم په ډېره مېړانه توره وچلوله او د جنګ په وخت کې یې لاندې رجزیه اشعار په ژبه وو:

«**من رائح الی الجنة**» څوک جنت ته ځي، نن د
«**الیوم القی الاحبة**» ملګرو لیدو ته روان یم، له
«**محمدا و حزبه**» محمد او ملګرو سرو یې.

په دې جګړه کې د عمار بن یاسر شهادت له وړایه دا شاهدي ورکوله، چې په دې جګړه کې حق د چا په خوا دی، په دې چې د مهاجرینو او انصارو په منځ کې دا واقعه مشهوره وه، چې په مدینه کې د جومات د جوړولو په وخت کې به نبي کریم صلی الله علیه وسلم د عمار په سر لاس راتېراوه او ویل به یې:

**افسوس اې ابن سمیه! د باغیانو یوه ډله به دې ووژني.**

د انصارو یو نېک سړی خزیمه بن ثابت د صفین په جګړه کې د علي بن ابي طالب په خوا ولاړ و. خو په جګړه کې یې برخه وانه‌خیسته، په دې چې د ده له زړه نه د شک ټولې خاشې نه وې اوبه شوې. خو کله یې چې د شام د خلکو په تورو د عمار وژل کېدل ولیدل، نو بې واکه یې چیغه کړه: «حق څرګند شو.» او د علي بن ابي طالب په لښکر ور ګډ شو او په جنګ کې یې د شهادت جام په سر واړاوه.

مګر معاویه بن ابي سفیان او عمر بن العاص بیا هم یو ځواب ومونده او ویې ویل:

«**موږ کله عمار وژلی دی، عمار خو هغو خلکو ووژاه، چې دلته یې جنګېدو ته راوستی و.**»

(c) ketabton.com: The Digital Library

**عمار د یاسر او سمیه زوی و، چې په مکه کې د اسلام دښمنانو ډېر زیاتر کړاوونه ور ورسـول، تـر دې چـې دواړه شهیدان شوو. ویل کېږي، چې د مکې په ابتدایي دور کې یو ځل نبي صلی اللّه علیه وسلم د یاسر په کورنۍ په داسې حال کې تېر شو، چې هغوی سره ظلم او تېری روان و. د یاسر له خولې یوازې دومره ووتل:**

**«یا رسول اللّه بس دا ده دنیا.»**

**د سیرت راویان لیکي، چې رسول اللّه صلی اللّه علیه وسلم وفرمایل:**

**«اې د یاسر کورنۍ! صبر ولرئ، تاسې سره د جنت ژمنه شوې ده.»**

**یاسر او د ده ښځه سمیه په اسلام کې لومړی د شهادت په مقام سرفرازه شول. د مور او پلار د بوږنوونکي انجام په لیدو سربېره د عمار په هوډ او اراده کې هېڅ فرق رانه غی. نوموړی په لا ډېر ایمان او یقین سره په اسلام ټینګ شو. د اثارو او سیرتونو راویان لیکي، چې عمار بن یاسر لومړنی مکي مسلمان دی، چې پـه خپل کور کې یې جومات جوړ کړ. د شان نزول د روایاتو له مخې لاندې آیت د عمار بن یاسر په اړه نازل شوی دی:**

**«او که هغه (غوره دی) چې د شپې په وختونو کې په سجده او قیام په عبادت لګیاوی، له اخرته وېرېږي او د خپل رب رحمت ته په هیله وي؟ ووایه: ایا هغه کسان چې پوهېږي او هغه چې نه پـوهېږي (دواړه) سره برابر دي؟ خبره دا ده چې یوازې د عقل خاوندان څه درس اخلي.» (زمر)**

## داسې نه وي چې د خدای قانون مو راګیر کړي

د غواوو او اوزو ساتونکو ته یوه دا مسئله هم ورپېښه وي، چې د خپلو څارویو شیدې د هغو له بچو په څه ډول وساتي. په ځینو سیمو کې د دې یوه حل لاره دا ده، چې د غوا یا اوزې د بچي په سر د ښکر غوندې یو لرګی تړي. د څاروي بچی چې کله د شیدو لپاره د مور تیونو ته خوله وربېرته کوي، نو له خولې نه مخکې یې هغه لرګی د مور له تیونو سره لګېږي او څاروی په ارامه نه درېږي. د همدغـه لرګـي برکـت دی، چې بچی او د مور تی، یو بل ته نه رسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا راز کیسه نن ورځ له مسلمانانو سره هم روانه ده. نور ملتونه د مسلمانانو لپاره د مدعو (چاته چې باید دعوت ورکول شي) حیثیت لري او مسلمانان د هغوی لپاره د حق داعیان دي. خو مسلمانانو له یوې مودې راهیسې له خپلو مدعو قومونو سره سیاسي او اقتصادي جګړې چېړلې دي. هر ځای مسلمانانو د هغوی لپاره دنیوي او مادي سنګرونه نیولي دي. د تصادم دغه سیاست د مسلمانانو په ملي وجود یو ډول د لرګي ښکر ګرزېدلی دی. هرکله چې د مسلمانانو او نورو قومونو وګړي یو بل ته نیږدې کېږي، نو مخکې له دې چې هغوی د مسلمانانو اسلامي حیثیت وپېژني، د مسلمانانو تېره ښکرونه ورچخېږي او هغوی په ترهېدلي حالت کې له مسلمانانو واټن ونیسي. او هېڅ هغه فضا یې ترمنځ نه ایجادېږي، چې نور قومونه د مسلمانانو له دیني پیغام سره اشنا شي او په دې پیغام باندې بې پرې غور وکړي.

که موږ یقین لرو، چې آخرت راتلونکی دی او له خلکو نه به د اعمالو پوښتنه کېږي، نو پکار ده، چې له خپل ځانه دغه ښکرونه ایسته کړو. که مو داسې ونه کړل، نو سخته اندېښنه ده، چې د خدای قانون به مو ونیسي- او زموږ د خپلو جرایمو په خوا کې به د نورو قومونو عذاب هم په موږ راواچول شي.

---

# د خدای د مرستې یو صورت دا هم دی



**د هجرت په شپږم کال د حدیبیې په ځای کې لس کلنه معاهده وشوه، چې یوه ماده یې دا وه:**

«د قریشو هغه سړی، چې د خپل ولي له اجازې پرته محمد صلی الله علیه وسلم ته ور وتښتي، نو پیغمبر ص به یې ورستنوي او د پیغمبر علیه السلام له ملګرو نه چې یو سړی قریشو ته ورشي، نو هغوی به یې بېرته نه ورستنوي.»

د دې معاهدې د بشپړتیا په وخت کې د قریشو استازولي سهیل بن عمرو کوله. معاهده د لیک په حال کې وه، چې د سهیل بن عمرو زوی ابوجندل راغی. ابوجندل مسلمان شوی و. خو د مکې خلکو ځان سره بندي ساتلی و. ده له مکې نه تر حدیبیې (اوسني شمیسي) پورې ۱۳ میله لاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنډه کړې وه او د نبي کريم صلی الله عليه وسلم تمځـای ته په داسې حال کې ورسېده، چې لا يې هم په پښو کـې بېړۍ پرتـې وې او پـه بـدن يـې د تشـدد او تـاوتريخوالي نښانې وې. ابوجندل حضرت پيغمبر عليه السلام ته فريـاد وکړ، چې ما له دې بند نـه وژغـورئ. صـحابوو چـې خپـل مؤمن ورور په دې حالت کـې وليـده، نـو زغمـل يـې ورتـه سخت شو. خو سـهيل بـن عمـرو وويـل، چـې د معاهـدې ليک دې نه وي بشپړ شوی، شرطونه خو زمـوږ او ستاسـې ترمنځ ټاکل شوي دي. د همدې لپاره زما زوی بايـد بېرتـه ماتـه وسـپارل شي. رسـول الله صـلی الله عليـه وسـلم د سهيل بن عمرو دليل ته غاړه کېښوده او ابوجندل يې خپل پلار ته وسپاره او ابوجندل په ژړاندو سترګو بېرته مکې تـه سـتون شـو. همـدا راز ابـو بصـير او نـور مسـلمانان چـې د قريشو له بند نه مدينې تـه راتښـتېدلي وو، هغـوی هـم لـه معاهدې سره سم بېرته ستنانه کړای شول.

خو د دې بالعکس د مسلمانو مېرمنو په برخه کې دا اصـل نه دی منل شوی. په قرآن کريم کې دا ايـت رانـازل شـو: «اې مؤمنانو کلـه چـې مؤمنـانې د مهـاجرو پـه توګـه درتـه راشي نو ازمايښت پرې وکړئ، الله د هغوی په ايمان ډېـر ښه پوه دی، نو که چېرې تاسې ته مؤمنانې معلومې شـوې نو بېرته يې کافرو ته مه ورستنوئ.»

په دې تړاو، د مثال په ډول يوه واقعه دا راځي، چې ام‌کلثوم بنت عقبه بن ابي معيط له مکې نه راووته او مدينې ته ورسېده. د مکې خلک چې خبر شوو، نو هغوی د معاهدې حواله ياده کړه او د هغې د بېرته ستنېدو غوښتنه يې وکړه. د ام‌کلثوم دوه وروڼه وليد بن عقبة او عماره بن عقبة په خپلې خور پسې مدينې ته ورغلل، خو بيا يې هم ام‌کلثوم خپلو ورونو سره پرې نه ښودله.

په ظاهره خو دا له معاهدې سرغړونه وه. او د قريشو لپاره ښه فرصت و، چې د پيغمبر عليه السلام په حق کې په معاهدې د نه‌درېدو غوغا جوړه کړي او پيغمبر عليه السلام بدنامه کړي. خو قريشو له نبي کريم صلی الله عليه وسلم سره په سختې دښمني سربېره بالکل په دې خبره تيره کېښوده. او ان په دې باره کې يې سپڼ هم ونه کړ. داسې ولې وشول؟ د سيرت او تفسير په عامو کتابونو کې د دې پوښتنې هېڅ ځواب نه ليدل کېږي. قاضي ابوبکر ابن عربي ليکلي دي، چې قريش ځکه غلي شول، چې الله تعالی د معجزې په ډول د هغوی ژبې بندې کړې وې. بې له شکه دا خدايي مرسته وه، مګر نه په هغه معنا کې چې په عامه توګه ورته د معجزې کلمه کارېږي.

د معاهدې په الفاظو چې غور وکړو، نو دا حقيقت ډېر ښه روښانېږي. د نورو زياترو رواياتو په څېر، د حديبيې د تړون شرطونه هم زياترو راويانو په خپلو، خپلو الفاظو کې بيان کړي دي. مثلاً تر بحث لاندې شرط په هکله په مختلفو روايتونو کې لاندې الفاظ راغلي دي:

- «**من جاء منکم لمر نرده عليکم ومن جاءکم منا رددتموه علينا.**»
- «**من اتی رسول الله من اصحابه بغير اذن وليه رده عليه.**»
- «**من اتی محمدا من قريش بغير اذن وليه رده عليهم.**»
- «**علی ان لا ياتيک منا رجل و ان کان علی دينک الا رددته الينا.**»

وروستی روايت د بخاري په (**کتاب الشروط، باب الشروط في الجهاد والمصالحه**) کې راغلی دی او د سند په اعتبار يې قوي حسابولی شو او غالباً د معاهدې ياد شرط هم په همدې ټکو کې و. که دا ومنو، نو په دې فقره کې د **رجل** (سړي) کلمې مسلمانانو ته دا موقع ورکړه، چې له مکې نه راغلې مسلمانانې مېرمنې له دې مادې نه مستثنا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د معاهدې پورتنی شرط د مسلمانانو له لوري نه و، بلکې د مکه والو له لوري و. د هغوی له لوري سهیل بن عمرو په معاهده کې د مادې پاسني الفاظ لیکلي وو. و دې شي، چې د مادې د لیکلو په وخت کې به د سهیل په ذهن کې د «یوه شخص» مفهوم و، چې ښځه او نر دواړه په کې راتللی شي. خو خپل ذهني مفهوم ته یې چې د الفاظو جامه ورکوله، نو له خولې یې د «**رجل**» کلمه وتلې، چې په عربي کې یوازې د نارینه لپاره کاریږي. غالباً همدا وجه ده، چې ام کلثوم چې کله مدینې ته ورسېده او ورونه یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم حضور ته ورغلل او د خپلې خور د واپسي غوښتنه یې وکړه، نو د امام زهري د روایت له مخې، نبي کریم ص یې له ستنولو انکار وکړ او ویې فرمایل: «**کان الشرط في الرجال دون النساء.**» یانې شرط د سړو په هکله و نه د ښځو په هکله. (**احکام القرآن لابن عربی، تفسیر رازی**)

داسې معلومېږي، چې تر دې پېښې پورې پخپله قریش هم غالباً په دې غلطفهمي کې وو، چې د معاهدې دغه ماده د هر ډول مهاجرینو لپاره ده. هغه که نر وي یا ښځه. خو کله چې نبي کریم ص  په معاهده کې د **رجل** «نارینه» کلمې ته متوجه کړل. نو هغوی په خپله تېروتنه پوه شول. په دې ډول الله تعالی د یوې کلمې په ذریعه مسلمانې ښځې د ذلت له ستنېدو وژغورلې.


خو د قریشو د اخلاقي لوړتیا اعتراف کول هم ضرور دی. په دې برخه کې له مسلمانانو سره یوازې یو لفظي دلیل وو او هغوی سره له دې چې دښمن لوری و، دې دلیل ته غاړه کېښوده. حال دا چې د بحث او تأویل دروازه دومره پراخه ده، چې نه منونکی ذهن په هېڅ ځای کې هم ماتې منلو ته ضرورت نه لري. او الفاظ چې هر څه وي، د خپل زرځېزه ذهن په مټ هرې خبرې ته په خپله

ګټه معنا وراغوستلی شي. یو دلیل د هغه چا لپاره دلیل دی، چې د هغه پر وړاندې ټیټېدو ته اماده وي.

خو هغه چې ټیټېدو ته تیار نه وي، د هغه لپاره یو دلیل هم دلیل نه دی.

**حقیقي اسلام دا دی، چې بنده خدای تر ټولو لوی وګڼي، په هماغه پورې خپلې هیلې وتړي. خو چې کله د دین روح کمزوری شي، نو خرافاتي اعمال راڅوندي شي. په خدای بروسه ختمه شي. په یو خاص ډول اعمالو کې د مرموزو خواصو یقین زیات شي. بنده په خدای باندې له ایمان سره سره خدای پرې ایښی وي. په دین او خرافاتي اعمالو کې هماغه فرق دی، چې په قرآن او جادو کې دی.**

که قریشو سرتمبګي کړې وای، د خدای مرسته به بیاهم راغلې وای. د ظالم تدبیرونه د مظلومانو لپاره د الهي نصرت دروازې نه تړي، مګر دا چې مظلوم پخپله په خپلو بدعملیو د نصرت حق له لاسه ورکړي.



# د اسلام پېژندنه

اسلام نوی مذهب نه دی. اسلام د هماغه مذهب ډېره جامع او صحیح نسخه ده، چې د خدای نورو پیغمبرانـو تېرو زمانو کې راوړی و.

انسان د خپلو صلاحیتونو له لحاظه د تخلیق شاهکار دی. خو د صلاحیتونو د اظهار له پلوه انسان د دنیا ترټولو ناکامه مخلوق دی. یوه ونه زر کاله شنه زرغونه ولاړه وي. خو انسان له سل کلنۍ نه هم په کمه موده کې مړ شي. په خوښیو او خوندونو مو لا زړه نه وي موړ شوی چې ژوند ناڅاپه خپله لاره رانه بېله کړي. انسان چې کله د خپل علم، تجربې او پوخوالي وروستي حد ته ورسېږي، نو د مرګ پرښته ورته راشي.

آیا انساني ژوند یوه تراژیدي ده. ځواب دا دی چې نه. مرګپوهنې (Thanatology) او رواني څېړنو ثابته کړې ده، چې مرګ، د انساني ژوند پای نه دی. مذهب دغه کشف او یافت خپل تکمیل ته رسوي. مذهب راته وایي، چې زموږ اوسنی ژوند، د اصلي منزل په لوري مازې یو سفر دی. د انساني ژوند مثال خو د یخ لویې ټوټې (Iceberg) ته ورته دی، چې ډېره لږه برخه یې پورته ښکاري او ډېره برخه یې د سمندر په ژورو کې پټه وي. اوسنۍ دنیا زموږ د ژوندمهال هغه لنډه برخه ده، چې موږ د خپل راتلونکي اوږدمهاله ژوند لپاره تیاری پهکې کوو. زموږ خالق، زموږ ژوند په دوو برخو وېشلی دی. یوه، له زوکړې نه تر مرګه پورې. بله، له مرګ نه وروسته. اوسنۍ دنیا زموږ د صلاحیتونو د اظهار لپاره نیمګړې ده، اوسنۍ دنیا د زوال او فنا له قانون سره تړلې ده. موږ دلته خپلې ارزوګانې او هیلې تر وروستي بریده نه شو پوره کولی. د دې په خوا کې یوه بله خبره دا ده، چې په دې دنیا کې هېڅ داسې ځواک نشته، چې ښه او بد په خپله دایره کې تړلي وساتي او دا خبره دې یقیني کړي، چې عزت او سربلندي دې هماغه چاته ورکول شي، چې په رښتیا یې حقدار وي او هغه خلک دې ارومرو ترې محروم پاتې شي، چې په ځان کې یې د عزت او سربلندي واقعي استحقاق نه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیدا کړي. د ژوند راتلونکې مرحله د همدې نیمګړتیاوو دایمي جبران دی.

د دنیا د اوسنې وضعیت سبب دا دی، چې خالق انسان ته ازادي او اختیار ورکړي دي او خپل ځان یې مؤقتاً د غیب په پرده کې پټ کړی دی. کله چې ټول انسانان د خپل امتحان موده بشپړه کړي، نو د ځمکې او اسمان قوانین به بدل شي. او خدای به له خپلو ټولو قدرتونو سره راښکاره شي. او بیا به یوه داسې دنیا خلق کړای شي، چې هلته به د اوسنۍ دنیا ټولې نیمګړې له منځه یووړل شي او یوه کامله دنیا به ورته جوړه کړای شي او انسان به په مستقیمه توګه د خدای تر امر لاندې راشي، هغسې چې نن ورځ هم نوره دنیا نېغ په نېغه د خدای تر امر لاندې ده. د بایبل په ټکو کې، انساني پاچاهي به ختمه شي او «اسماني پاچاهي» به پیل شي. او انسان به د خپلو ارزوګانو په دنیا کې ژوند پیل کړي او له اضافې او زیاتونې سره به هر هغه څه ترلاسه کړي، چې نن ورځ یې یوازې خوب لیدلی شي. خو په دې جنتي ژوند کې به یوازې هغه خلک برخه وړي، چې خپل ځان یې په اوسني ژوند کې ورته چمتو کړی وي. چا چې په غفلت یا سرکښۍ کې اوسنې فرصتونه بایللي وي، د هغو لپاره په راتلونکي ژوند کې له بربادۍ پرته نور هېڅ هم نه دي ایښي.

له انسان پرته نور ټول کاینات، نن ورځ هم له دغې نیمګړتیا نه خالي دی. له انساني کلیو او ښارونو لرې د فطرت دنیا څومره ښکلې ده. ګهیځ مهال چې په غرونو او ونو باندې لمر خپلې زرینې وړانګې غځوي او مرغان په نغمو او سندرو خپله ورځ پیلوي، نو داسې بې مثاله منظره جوړوي، چې تماشابین یې غواړي، چې ځان هم په دې افاقي حسن کې ډوب کړي. د ځمکې له شنو زرغونو رغو نیولې د اسمان تر ځلبلانده ستورو پورې دا دنیا نېغ په نېغه د خدای تر حکم او واک لاندې ده. د فطرت دنیا له کثافاتو (Pollution) او فساداتو (Corruption) نه سوتره په خپل عمل کې لګیا ده. خو په انساني دنیا کې انسان ته یو عارضي غونډې اختیار ورکول شوی دی. دې اختیار او ازادي انساني دنیا په یوه دوزخ بدله کړې ده. کله چې دا وضعیت پای ومومي او په انساني دنیا کې هم خدایي اقتدار برپا شي، نو دلته به هم هماغسې یوه ګلالۍ دنیا رامنځته شي، چې موږ یې له ځان نه اخوا په خارجي دنیا کې ننداره کوو.

هغسې چې په ظاهره د هګۍ د ساده پوټکي دننه د ژوند یو بشپړ امکان پټ وي او دا امکان دومره قوي وي، چې څنګه ورته حالات مساعد شي، سمدستي پوټکی ماتوي او بیرون راوځي. په همدې ډول زموږ په دې اوسنۍ دنیا کې هم د یوې بلې بشپړې دنیا امکان پټ دی. کله یې چې وخت راشي، نو دا امکان به ظاهري پردې څیرې کړي او راښکاره به شي.

«دننه په دنیا کې د یوې بلې دنیا امکان» یو داسې حقیقت دی، چې د نن ورځې د انسان لپاره یوه اشنا او پېژندلې پدیده ګرځېدلې ده. نن ورځ چې کله موږ راډیو یا ټلویزون روښانه کوو، نو سمدستي راته معلومېږي، چې زموږ شاوخوا کې یوه داسې دنیا هم وه، چې موږ د خپلې برېښنایي آلې له روښانولو دمخه ترې بالکل بې خبره وو. اوسني ساینسي انقلاب ثابته کړې ده، چې زموږ په دنیا کې دننه یوه بله، ډېره بشپړه دنیا پټه ده، خو انسان تر سلو کلونو دمخه پورې له دې امکان نه اصلاً بې خبره و. انسان د ځمکې په مخ له نامعلومو مودو راهیسې مېشت دی او شاوخوا د ۲۵ زره کلونو پېښې یې په یوه نه یوه کچه په تاریخي ډول ثبت شوې دي. خو په دې اوږدمهاله تاریخ کې انسان یوازې د ژوند له هغو سرچینو سره اشنا و، چې په ظاهره کې یې په خپلو سترګو لیدلی شوې. که نن نه څو سوه کاله مخکې چا ویلي وای، چې په شلمه پېړۍ کې به زموږ دنیا په بشپړه توګه په یوه بله دنیا تبدیله شي، زموږ د ماسټر پلان له

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخې جوړ شوي ښارونه به لري، د بټنې په کېکاږلو به کورونه رڼا کېږي. انسان به په هوا کې الوځي. د راډيويي څپو په مټ به فضايي توغندي کنټرولېږي. د انسان اواز به له يوې ثانيې نه هم په کمه موده کې له ټولې ځمکې راتاوېږي. د ځمکې په هره برخه کې مېشت انسان به په بله برخه کې له مېشت انسان سره داسې خبرې کوي، لکه مخامخ چې سره ناست وي. د انسان کټ مټ انځورونه به اخيستل کېږي او سپوږمۍ او نورو سيارو ته به سفرونه کوي. او داسې نور. نو دا راز خبرې به خلکو ته د جادو او طلسم خبرې معلومېدې. خو نن ورځ زموږ له پخوانۍ دنيا نه دا دنيا راوتلې او زموږ د سترګو په وړاندې نڅېږي.

دا دی د انساني ژوند اصلي حقيقت. له دې حقيقت نه د انسان د خبرولو لپاره خالق لومړنی کار دا کړی چې پخپله د انسان په فطرت کې يې د پيدايښت له ورځې نه د يوه اعلی ژوند تصور ايښی دی، تر څو د خپلې دروني تقاضا له مخې د برتر ژوند په لور هلې ځلې وکړي. ټول بشري تاريخ راته وايي، چې د يوه برتر ژوند خوب د انسان په خټه کې داسې اغږلی دی، چې په هېڅ ډول يې له ځانه نه شي لرې کولی.

دا برتر ژوند ته انسان څنګه لاسرسی لرلی شي، د دې پوښتنې د ځواب لپاره خالق دا چاره کړې، چې د رسالت يا نبوت سلسله يې جاري کړې ده. د بشر پلار آدم يوازې لومړنی انسان نه و، بلکې د خدای رسول هم و، چې خدای په شعوري ډول د خپلې رضا علم ورکړی و. ورپسې نوح، ابراهيم، موسی، عيسی او نور زرګونه پيغمبران هر هېواد او کلي ته راغلل او په هره زمانه کې يې انسان ته د ژوند حقيقت بيان کړ او له دې واقعې نه يې آګاه کول، چې دا کاينات د يوه خاص مقصد په خاطر پنځول شوی او بله دا چې د دې کاينات انجام به څه وي. خو د دې پيغمبرانو له لارې چې کوم الهي تعليمات انسان ته راغلل، انسان بيا بيا هغه لارښوونې ضايع کړې. يا خو اصلي اسماني متن ترې تم شو يا په انساني کلام کې داسې خلط‌ملط شو، چې دا معلومول يې ناممکن شوو، چې کومه برخه يې د خدايي کلام ده او کومه برخه يې هغه ده، چې د انساني لاسونو زياتونه ده. تر دې چې هغه وخت راغی، چې انسانيت د تاريخ دور ته ورسېده. په دې وخت کې خدای د وروستي پيغمبر حضرت محمد صلی الله عليه وسلم په لاس اخري کتاب رانازل کړ او د خپلې ځانګړې مرستې په ذريعه يې ټول اديان مغلوب کړل او د دې کتاب په اساس يې يو ځواکمن سلطنت رامنځته کړ، چې تر زرو کلونو پورې له ټول شان او دبدبې سره ژوندی و او د خدای د وروستي کتاب ساتنه يې کوله. تر هغه وروسته هغه وخت راغی، چې انساني تاريخ يو بل ګام واخيست او د چاپ په دور کې يې پښه کېښوده. پخوا به د قرآن کريم هره نسخه جلا، جلا په لاس ليکل کېدله. اوس دا امکان پيدا شو، چې يوه سمه نسخه وليکل شي او زرګونه نسخې يې چاپ شي. په دې ډول په قرآن کريم کې د هر ډول تغيير او بدلون امکان د تل لپاره پای ته ورسېده.

عربي پيغمبر چې کوم دين د خدای له لوري راوړی، هغه کوم نوی دين نه دی. دا ټيک هماغه دين دی، چې تېرو نبيانو په خپله، خپله زمانه کې وړاندې کړی و. د قرآن کريم حيثيت يوازې دا دی، چې قرآن د پخوانيو اسماني لارښوونو مستنده نسخه ده. عربي پيغمبر د خدای دين ته د تاريخ حيثيت ورکړ، حال دا چې له دې نه مخکې د خدای دين يوازې د افسانوي رواياتو د مجموعې حيثيت درلوده. دغه راز عربي پيغمبر، پخوانيو صحيفو ته چې د ترجمې او الحاق له لارې کومو تېروتنو لاره کړې وه، هغه اصلاح کړې، تکميلي احکام يې ور اضافه کړل او داسې جامع صحيفه يې ترې جوړه کړه، چې د قيامت تر ورځې پورې د انسان ضرورت پوره کوي. د اسرائيلي انبياوو له لارې خدای

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېر پخوا فرمايلي و، چې په وروسته زمانه کې به زه نوی عهد وتړم، چې زما «تلپاتي عهد» بـه وي. (يوحنـا- ۱۴: ۱۶) په اوسني بايبل کې انجيل ته «نوې عهدنامـه» ويـل کېږي. خو د خدای نوې عهدنامه په حقيقت کې قـرآن کريم دی. انجيل خو مازې د دې نـوې عهـدنامې لپـاره زېری و او پخپله نوې عهدنامه نه وه.

**اسلام د کايناتو دين دی، د هر انسان د زړه اواز دی. د الهي تعليماتو مستنده نسخه ده.**

---

## په کوم ډګر کې چې ننګونه وي، باطل بايد په هماغه ډګر کې ماتې وخوري

**د اسلام د پيغمبر حضرت محمد صلی اللّه عيله وسلم په زمانه کې په عربو کې يو مشهور پهلوان و، چې نوم يې رُکانه و. يوه ورځ داسې وشول، چې نبي کريم ص د مکې په ښار کې ګرزېده. په لاره کې رُکانه مخې ته ورغی. نبي کريم ص د خلکو د اصلاح او هدايت ډېر زيات حريص و. او هرکله به چې چاسره مخ شو، نو غوښتل به يې چې په يو نه يو ډول د خدای خبره ور ورسوي. نبي کريم ص ور وړاندې شو او رُکانه سره يې روغبړ وکړ او د خدای دين يې ورته بيان کړ. او ويې ويل، چې که نجات او کاميابي غواړې، نو دا لاره غوره کړه.**

**رُکانه وويل: «اې محمده! که دا ثابته شي، چې ته په حق يې، نو زه به ارومرو ستا خبره ومنم.» رُکانه پهلوان سړی و. د ده لپاره تر ټولو لوی دليل جسمي طاقت و. نبي کريم ص د هغه د ذهن مطابق ځواب ورکړ چې «که دې په پهلواني کې راڅملوم، نو آيا زما خبره به ومنې.» رُکانه وويل، هو.**

**په دواړو کې مسابقه وشوه. د اسلام پيغمبر، رُکانه په ځمکې وويشت. رُکانه ډېر حيرانه شو. د ده فکر و، چې که محمد رښتونی هم وي، نو مازې روحاني سړی به وي. له جسمي ځواک سره يې څه کار. ده ګومان وکړ، چې شايد د تصادف له مخې به پيغمبر عليه السلام بريالی شوی وي. دی بېرته راپورته شو او ويې ويل «يو ځل بيا هم مسابقه کوو.» د اسلام پيغمبر دوهم ځلې هم غېږه ورسره ونيوله او بيا يې په ځمکه وويشت. نبي کريم ص خپله ژمنه ور په زړه کړه. خو هغه له خپلې ژمنې واوښته او په دې خبره يې لاره ونيوله «ته جادوګر يې، لوی جادوګر.»**

**له دې واقعې نه معلومېږي، چې د باطل له لوري چې حق ته هره ننګونه وړپېښه وي، د حق پلويان بايد په هماغه ميدان کې د حق خاوندانو ته ماتې ورکړي. له هغه پرته د حق له لوري حجت نه پوره کېږي. په دې برخه کې د حق د خاوندانو تياری بايد په دومره اعلی معيار شوی وي، چې د باطل خاوندان په هېڅ حال کې هم پرې غالب نه شي. ان که تعصب او سرتمبګي يې د حق په منلو کې مانع هم شي، بيا هم د حق د برترۍ اعتراف ته مجبور شي او ووايي چې «دا خو جادو دی جادو.»**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مثبت کار ته اړتیا ده

فرانسوي ناول لیکونکي ویکټور هوګو (۱۸۸۵- ۱۸۰۲) د رسول الله ص په سیرت یو کتاب لیکلی دی. دا کتاب خورا ګونګ او له زهرو ډک دی.

یوه ناول لیکونکي ته څه وریښنه وه، چې د اسلام په پیغمبر دغه راز سیرت ولیکي. د دې ځواب د ویکټور هوګو په ژوند کې موندلی شو.

د ویکټور هوګو په زمانه کې فرانسې په الجزایر قبضه کړې وه او د سیاسي رهبرانو د ویناوو له امله د هغه ځای په خلکو کې د فرانسې په خلاف ډېره شدیده کرکه پیدا شوې وه. یوه ورځ داسې وشول، چې ویکټور هوګو کوم هوټل ته ننوت. هلته یو الجزایري مسلمان هم و. په کومه خبره د دواړو لانجه شوه. ویکټور هوګو د مسلمان د وهلو لپاره لاس ور اوږد کړ. خو الجزایري مسلمان وار په ړومبی کړ او ویکټور هوګو یې ښه ودرباوه. په دې صحنه کې ځینې نور الجزیراي مسلمانان هم وو. د یوه فرانسوي په وهل کېدو هغوی ډېر زیات خوشاله شوو او چکچکې یې ووهلې. ویکټور هوګو په دې شېبه کې ورته وویل چې «اوس خو مې وس نه دربانديې رسېږي. خو ډېر ژر به یو داسې کار وکړم، چې نه یوازې له تاسې، بلکې ستاسې له راتلونکو نسلونو نه به هم غچ واخلي.»

د دې شخړې پنځه میاشتې وروسته هغه کتاب راووت، چې یوه، یوه کرښه یې د اسلام د پیغمبر په خلاف په زهرو لړلې وه.

په فرانسې کې د پاکستان سفیر قدرت الله شهاب د دې کتاب په ځواب کې یو کتاب خپور کړی دی.

**که د نورو په مقابل کې مو لویي او درناوی په برخه شي، نو نورو خلکو ته په ټیټه مه ګورئ، پــه دې چــې لویان او واړه بلاخره برابرېــدونکي دي. او بیا به لویي یوازې هغه چــا لره وي، چې خدای یې لوی کــړي. او وړوکی به هغه څــوک وي، چــې د خدای په نزد وړوکی شي.**

مسلمانان د «اسلام د دښمنانو» په ضد خو ځوابي کتابونو لیکلو ته ډېر په شوق راپورته کېږي، خو په خپل ځان کې هغه حالات نه پیدا کوي، چې په لیدو یې د اسلام د


(c) ketabton.com: The Digital Library

معاندینو غلطفهمۍ ختمې شي او د خدای له دین نه د ترهېدو په ځای د خدای دین ته رانیږدې شي.

د «استعمار» په ضد چې په تېرو پېړیو کې کومې سیاسي هنګامې ترسره شوې، هغو اسلام ته هېڅ ګټه ونه رسوله، البته یو لوی نقصان یې دا و، چې د نورو قومونو لپاره په اسلام باندې د غور او فکر فضا له منځه ولاړه.

غربي قومونه نور زموږ د دعوت نښانه پاتې نه شول، او د نفرت او کرکې موضوع وګرزېدل. د لویدیځ ولسونو ته موږ په دې نظر ونه کتل، چې د خدای دا بندګان زموږ لپاره د مدعو حیثیت لري او زموږ مسؤلیت دی، چې د خدای پیغام تر دوی پورې ورسوو. خو د دې بالعکس زموږ انګېرنه دا وه، چې دوی بدترین مخلوق دي. او د دوی سپکول او له دوی نه لرې اوسېدل د تقدس تر ټولو غوره نښه ده.

مولانا مملوک علي به د خپلې دندې له کبله کله نا کله له انګرېزانو سره مصافحې ته مجبور کېده، خو له مصافحې وروسته به یې نومړی سمدستي غسلخانې ته لاړ او لاسونه به یې وینځل. ده فکر کاوه، چې د انګرېز د لمس کولو له امله یې لاس نجس شوی دی.




---

**نفرت ځان سره نفرت راوړي او د مینې په ځواب کې مینه راځي. په همدې سبب اسلام دا طریقه ښودلې ده، چې له چا نه چې تېروتنه ووینئ، نو د حکمت او محبت په ژبه یې پوه کړئ، هغسې چې یو پلار خپل زوی پوهوي**

عبدالله ابن مسعود رض فرمایي چې یو سړی نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته راغی او ویې ویل، چې زه د سهار په لمانځه کې ځکه شاته پاتې کېږم، چې پلانکی زموږ په جومات کې لمونځ راکوي او هغه کس لمونځ ډېر زیات اوږدوي. نبي کریم ص په دې خبره دومره زیات غوسه شو، چې له دې نه مخکې ما پیغمبر علیه السلام هېڅ کله

(c) ketabton.com: The Digital Library

دومره غوسه نه و لیدلی. بیا نبي کریم ص وینا وکړه او ویې فرمایل «**یا ایهاالناس ان منکم منفرین، فمن ام منکم الناس لیتجوز، فان خلفه الضعیف والکبیر وذا الحاجة.**» **(بخاري)**

ژباړه: اې خلکو! په تاسې کې داسې کسان شته، چې خلک له دین نه لرې کوي. په تاسو کې چې هر څوک د خلکو امامت کوي، نو پکار ده چې لمونځ لنډ ورکړي، ځکه تر شا به يې څوک کمزوری وي، څوک زوړ او څوک اړمن.

حضرت جابر رض په یوه روایت کې فرمایي چې معاذ بن جبل به له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په مسجدِنبوي کې لمونځ وکړ، له دې ځایه به ېبرته خپل کلي ته ستون شو او د خپل ګاونډ د خلکو امامتي به يې کوله. یوه ورځ يې د ماخوستن لمونځ ورکاوه او د بقرې سوره يې په کې ولوسته. نو یو تن د اوږدې سورې له امله له لمانځه ېبل شو. او له هغه وروسته يې له معاذ سره اړیکه خړه پړه شوه. رسول الله صلی الله علیه وسلم چې خبر شو، نو هغه سړي ته يې هېڅ هم ونه ویل. البته د حضرت معاذ په اړه يې وفرمایل: «**فتان، فتان، فتان.**»

ژباړه: (فتنه پاروونکی، فتنه پاروونکی، فتنه پاروونکی) **(بخاري)**

په دې برخه کې تر ټولو ډېره حیرانوونکې واقعه هغه ده، چې یو کلیوال سړی راغی او په مسجدِنبوي کې بولو ته کېناست. خلکو پرې ورمنډه کړه، نو نبي کریم ص منع کړل. کله چې سړی له بولو فارغ شو، نو نبي کریم ص په صحابوو مرداری صفا کړ او ورته ویې فرمایل: «**انما بعثتم میسرین ولم تبعثوا معسرین**» **(بخاري)** ژباړه: تاسې د اسانتیا لپاره استول شوي یاستئ، د سختي لپاره نه یاستئ استول شوي.

په پخوا زمانه کې د کعبې ودانۍ د ډېرو بارانونو له امله ونړېده. قریشو چې د کعبې ودانۍ بېرته رغوله، نو د توکو د کمښت له امله يې د ابراهیم علیه السلام په بنیادونو ونه رغوله، بلکې تر پخوا يې وړه اباده کړه. نبي کریم ص غوښتل، چې خانه کعبه بېرته د ابراهیم علیه السلام په بنیادونو ورغوي، خو په دې اندېښنه چې د کعبې له ودانۍ سره د خلکو یو تقدس تړلی دی او د هغه له امله به ښایي خلک د کعبې نړېدل ونه شي زغملی، نو له دې کار نه يې ډډه وکړه. نبي کریم ص یو ځل عائشې ته وفرمایل: «**لو لاحداثة قومک بالکفر لنقضت البیت ثم لبنیته علی اساس ابراهیم.**» ژباړه: که ستا قوم نوی، نوی له کفر څخه نه وای راوتلی، نو بیت الله به مې ړنګه کړې او د ابراهیم علیه السلام په بنیادونو رغولې وه.

هغه اسلام چې د انسان د رعایت پهکې دا حال دی، د هغه علمبرداران نن ورځ د انسان متنفر کولو ته د اسلام نوم ورکوي.

## وګورئ چې تاسې کومه ونه کرئ

**د دنیا نظام الله تعالی په پخو قوانینو بنا کړی دی او دا پرېکړه يې کړې ده، چې په دې قوانینو کې به هېڅ ډول تبدیلي هم نه راولي. (فاطر: ۴۳) د دغو الهي قوانینو له ډلې یو قانون دا دی، چې الله تعالی ټاکلې ده، چې هغه خلک چې په سطحي شعارونو او جذباتي ویناوو خپل قوم راپاروي، د هغو ملي ژوند به د هغو تورو وربخُو غوندې وي، چې غورېږي به مګر وربږي به نه. د لنډمهال لپاره به راښکاره شي، خو کوم ثبات به نه لري. د فتحې په شعارونو راپورته کېدونکي خلک بلاخره یوازې همدا په برخه وړي، چې فریادونه به کوي چې، «وای، پلانکي مې ونه له بېخه ونړوله.»**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**خو هغه خلک چې په زورو ريښو او اوږدمهاله طرحو خپل ملت ورغوي، هغوی به د مضبوطو ونو ثبات او پايداري مومي، چې هېڅ څوک يې نه شي نړولی او تر پېړيو، پېړيو انسانيت ته خپل سيوری او مېوه رسوي.**

**که تاسې په دنيا کې حقيقي مقام ترلاسه کول غواړئ، نو تر ټولو دمخه په حقيقي بنيادونو د خپلې رغونې طرحه جوړه کړئ. هغه صحيح مقام پيدا کړئ، چې صحيح او پايدارې هلې ځلې ترې پيلېږي.**

که تاسو خپل پيل ومونده، نو پای به يې هم ومومئ، په دې چې سم پای د سم پيل دوهم نوم دی.

# يوه اروايي کمزوري چې انسان په شک او انکار اړوي

په قرآن کريم کې د يهودو د کردار په اړه ويل شوي دي، چې د اخري پيغمبر تر راتلو دمخه يهود د هغه راتلو ته په تمه وو او د حق د مخالفينو غلبه به يې چې ليدله، نو ويل به يې چې دربغه، د اهلِ حق د لاربښوونې لپاره هېڅ څوک نشته او دعاوې به يې کولې، چې خدايه! په وروستي دور کې چې کوم لوی مصلح راروان دی، هغه راواستوه، تر څو د هغه په مټ اهلِ حق ځواکمن شي او په دنيا کې يو ځل بيا ستا د رښتيني دين چرچې شي. خو کله چې د عربي نبي ص په شکل کې هغه ستر مصلح راغی، نو يهودو يې له منلو ډډه وکړه، تر دې چې په مخالفت کې يې د نبي کريم ص له دښمنانو سره لاس يو کړ. (بقره: ۸۹)

ابن اسحاق د ابن عباس په حواله رانقل کړي دي، چې د احزابو له غزوې نه مخکې قريشو، غطفان، بنو قريظه او بنو نضير د پيغمبر عليه السلام په خلاف سنگر جوړ کړی و.

په دې برخه کې د قريشو د لمسولو لپاره د مدينې د يهودي سردارانو يوه ډله مکې ته راغله. په دې ډله کې حيی بن اخطب، سلام بن ابی حقيق، ابو رافع، ربيع بن ابی حقيق، ابو عماره، هودة بن قيس شامل وو. دوی چې کله مکې ته ورسېدل، نو قريشو وويل: «**هولاء احبار اليهود و اهل العلم بالکتاب الاولی فاسئلواهم ادیننا خير ام دين محمد.**» ژباړه: دا د يهودو علماء او د پخوانيو اسماني کتابونو پوهان دي، له دوی نه يې وپوښتئ، چې ايا زموږ دين بهتر دی که د محمد دين.

د يهودو علماوو د دې پوښتنې په ځواب کې وويل: «**دينکم خير من دينه و انتم اهدی منه و ممن تبعه.**» ژباړه: ستاسې دين د هغه له دين نه غوره دی او تاسې له محمد او د هغه له ملگرو نه ډېر په لاره ياستئ. (نساء: ۵۱)

بغوي ليکلي دي، چې کله ابوسفيان په دې هکله له کعب نه وپوښتل. نو کعب وويل چې ماته خپل دين بيان کړه.

ابوسفيان وويل:

«**نحن ننحر للحجيج الکوماء ونسقيهم الماء ونقري الضيف ونفك العاني ونصل الرحم ونعمر بيت ربنا ونطوف به ونحن أهل الحرم، ومحمد فارق دين آبائه وقطع الرحم وفارق الحرم، و ديننا القديم و دين محمد الحديث.**» ژباړه: موږ د حاجيانو لپاره غوره ښاروي حلالوو. حاجيانو ته اوبه ورکوو. د مېلمنو درناوی کوو، بنديان ازادوو، خپلوی پالو. بيت الله ابادوو او طواف يې کوو. موږ د حرم وگړي يو او محمد د

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیکونو دین پرې اینبی او خپلوی یې پرې کړې او حرم یې پرېښوده. زموږ دین لرغونی دی او د محمد دین نوی دی.

د دې خبرې په اورېدو کعب وویل: «**والله أنتم أهدی سبیلا مما علیه محمد**.» ژباړه: په خدای قسم! محمد چې په کومه لاره دی، تاسې تر هغې په غوره لاره یاستئ.

**په فضایي جاسوسي کې چې کومې الوتکې کارېږي، په هغو کې خورا نازکې کامرې لګېدلې وي. په ډېره لوړه الوتنه کې هم د دې الوتکو تصویرونه دومره بشپړ وي، چې د انسان په څېره باندې د احساساتو زېر و بم هم لیدل کېدلی شي. خو له اواز نه چټکې دغه الوتکې عموما د دښمن له هدف نه خوندي پاتې کېږي. یادې الوتکې له اواز نه هم چټک سرعت لري، نو په ځمکه ولاړ انسان یې درک هغه مهال لګولی شي، چې الوتکه ډېره لرې رسېدلې وي. ګواکې د ژوند یوه طریقه دا هم ده، چې تاسې خپل سفر داسې ووهئ، چې سیال مو په فعالیتونو هغه مهال پوه شي، چې تاسې خپل کار ایستلی وي.**

د یهودو کوم کردار چې په قرآن کریم کې ذکر شوی دی، هغه مازې یوه تاریخي واقعه نه ده، بلکې و دې شي چې په هر دور کې همداسې وشي او په هر دور کې داسې خلک وي، چې هغسې نفسیاتي کمزورې له ځانه وښیي، چې یهود پرې اخته وو. بله دا چې دا راز خلک چې کله د خپلو دعاګانو او ارزوګانو خلاف د ربښتیني دعوت انکار کوي، نو دوی د خپلې رویې د سموالي لپاره ډېره معقوله توجیه هم لري: موږ د اسلافو پیروان یو، موږ د دیني ادارو ساتونکي یو، موږ د خلکو خدمت کې لګیا یو، موږ د ملت د یووالي علمبرداران یو، او داسې نور.

د دغې کمزورې یوه بېه هغه ده، چې د قرآن کریم په څلوېښتمه سوره کې یې یادونه راغلې ده.

د فرعون او موسی ع کشمکش چې وروستي پړاو ته ورسېده، نو فرعون نیت وکړ، چې موسی علیه السلام ووژني. په دې وخت کې د فرعون د دربار یو سړی راودرېده. دې سړي د حضرت موسی دعوت په حق لیدلی و او په زړه کې یې پرې ایمان راوړی، خو تر دې دمه یې خپل ایمان نه و ښکاره کړی. نو اوس چې د موسی د وژلو خبرې رواني شوې، نو دی په جار راوړاندې شو او د موسی علیه السلام په ملاتړ کې یې یوه مفصله وینا وکړه. په دې وخت کې چې دې مؤمن سړي څه وویل، په هغو کې یې دا خبره هم وکړه چې له موسی نه مخکې ستاسې هېواد ته یوسف ع رااستول شوی و. هغه واضحې نښانې در وښودې او ثابته یې کړه، چې بې له شکه هغه د خدای رسول دی. د پاچا خوب یې سم تعبیر کړ او تاسې یې له اوه کلني قحطۍ نه وژغورلئ، داسې برکتي او عادلانه حکومت یې جوړ کړ، چې تاسې هېڅ کله په خپل هېواد کې نه و لیدلی، د هغه علم، د هغه اخلاق، د هغه شخصیت ستاسې په منځ کې متل وګرزېده. خو د هغه په ژوند کې تاسې پر هغه ایمان را نهووړ، تر دې چې کله خدای درنه واخیست، نو تاسې وویل چې «له هغه وروسته به خدای هېڅ کله داسې پیغمبر را ونه لېږي.» په همدې ډول الله تعالی هغه ټول بې لارې کوي، چې له حدونو تېری کوي او په شبهاتو کې ښکېلېږي. هغه چې د الله په خبرو کې جګړې کوي بې له دې چې کوم سند ورسره وي، دا کار د خدای او مؤمنانو پر وړاندې ډېر ناوړه کار دی. په همدې ډول الله د هر متکبر او سرکښه بنده په زړه ټاپه وهي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قرآن کریم دا برخه له یوه اړخه د حضرت موسی د دعوتي تاریخ یوه پاڼه ده او له بله اړخه د انسان یوه کمزوري هم په ګوته کوي، چې د زیاتره انسانانو لپاره د حق دعوت په منلو کې مانع ګرځي. او دا کمزوري د معاصرتوب فتنه ده.

هغه خلک چې عزت، دولت او سکون او هر څه په همدې دنیا کې غواړي، په هغوی کې ورو په ورو یوه اروايي غوټه وده کوي. هغوی په شعوري یا لاشعوري توګه غواړي، چې عزت او اقتدار ټول د دوی لاسونو ته ورشي. د دې فطري پایله دا وي، چې په دې شیانو کې له ځانه لوړ ورته د منلو نه وي. هغوی په دې اند وي، چې که د چا په اړه یې دا خبره ومنله، چې هغه په حق دی یا فکري او علمي برتري لري، نو له دې سره به د دوی خپل حیثیت راولوېږي. همدا شیان د خپل معاصر د کمال په منلو کې مانع ګرځي. دوی د تېرو خلکو لویي ته ډېر په اسانه غاړه ږدي، خو د ژوندیو انسانانو د لویي په منلو کې د خپل لویوالي مناره د لوېدو په حال کې ویني. د خپلو هممهاله خلکو د تصغیرولو لپاره دوی کله نا کله دا هم وايي چې «اوس به نو هغسې خلک چېرته پیدا شي.» که کومه واضحه نښه یې مخې ته راشي، نو بې معنا غونډې بحثونه به راوسپړي او هڅه کوي، چې دغه نښانه غلطه یا حقیره وګڼي. خپله نفسیاتي کمزوري دوی د تل لپاره په شک کې ساتي، او دوی په دې ګومان د خپل عزت مانۍ درولې وي، چې که نور هېڅ هم نه وي، پخواني بزرګان خو مني او دا ژوندی کس خو د هغو غونډې نه دی. که نه و، خو دی به مو هم منلی و.»

خپل متکبرانه مزاج او سرکښه طبیعت د دوی لپاره داسې ټاپه وګرزي، چې هېڅ معقوله خبره یې زړه او مغزو ته نه کوزېږي. د ښکاره نښو په لیدو هم دوی د ړندو غونډې وي تر دې چې په همدې حال کې یې اخره خاتمه راشي.

# صلاة التسبيح

## د کیفیت لرونکي عبادت نوم دی، نه درې سوه ځله د یوه لفظ د تکرارولو

د عبدالله بن مبارک د استاد عبدالعزیز ابن ابی رواد قول دی: «چا چې د جنت اراده کړې وي، نو ورته بویه چې د صلاة التسبیح لمونځ ټینګ کړي.» د تبع تابعینو له دور نه تر اوسه پورې لوی شمېر خلکو په دې خبره عمل کړی دی. ویل کېږي، چې که یو نفر په ټول ژوند کې یو ځل هم صلاة التسبیح وکړي، نو نجات به یې په برخه شي.

دا عقیده په ځینو روایتونو ولاړه ده. مثلاً ابو داؤد، ابن ماجه، بیهقي او ځینو نورو دا روایت رانقل کړی دی چې:

**«عن ابن عباس ان النبی صلی الله علیه وسلم قال للعباس بن عبدالمطلب، یا عباس یا عماه ألا أعطیك ألا أمنحك ألا أخبرك ألا أفعل بك عشر خصال إذا فعلت ذلك غفر الله لك ذنبك أوله وآخره قدیمه وحدیثه وخطأه وعمده صغیره وکبیره سره وعلانیته أن تصلي أربع رکعات...»**

ژباړه: له حضرت عباس نه روایت دی، چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم عباس بن مطلب ته وویل، اې عباسه رض، اې زما تره، یوه ډالۍ درکړم، یو بخشش درکړم، له یوې خبرې دې خبر کړم، د لسو خصلتونو څښتن دې کړم، چې کله دا کار وکړې، نو الله به دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

گناهونه وبښي، ړومبني او وروستني، نوي او زاړه، په خطا کې شوي او قصدا شوي، واړه او لوی، پټ او ښکاره، هغه کار دا دی، چې څلور رکعته لمونځ (صلاة التسبيح) وکړه.

وروسته په روايت کې د دې ځانګړي لمانځه طريقه بيان شوې ده. هغه دا چې له الحمد او سورت لوستلو وروسته «**سبحان الله**»، «**الحمدلله**»، «**لا اله الا الله**»، «**الله اكبر**» څلور واړه دې پنځلس ځله ولولي. بيا دې په رکوع کې له **سبحان ربی العظيم** وروسته لس ځله ولولي. له رکوع نه چې راپورته شي، نو له **سمع الله لمن حمده ربنا ولک الحمد** وروسته دې لس ځله ولولي. بيا دې په دواړو سجدو کې له **سبحان ربی الاعلی** وروسته لس، لس ځله ولولي. بيا چې د دواړو سجدو په منځ کې کېني، نو لس ځله دې ولولي. بيا چې له دوهمې سجدې نه په **الله اكبر** سره قيام ته ځي، نو د درېدو په ځای دې کېني او په دې حالت کې دې لس ځله پورتني کلمات ولولي او له **الله اكبر** پرته دې پورته شي. له دوو رکعتونو وروسته او همداسې له څلورم رکعت وروسته دې هم دا کلمې لس، لس ځله ولولي، بيا دې التحيات ووايي. په دې طريقه د الهي تسبيح پاسنی کلمې په څلورو رکعتونو کې درې سوه ځله ويل کېږي.

دغه راز له يو څه فرق سره د دې لمانځه يوه بله طريقه هم ښودل شوې ده.

۱- د صلاة التسبيح په برخه کې لومړنی د غور وړ خبره دا ده، چې بخاري او مسلم دا روايت نه دی راوړی، چې د حديثو ډېر مستند کتابونه پېژندل کېږي. که د صحابوو په زمانه کې هم دا لمونځ رواج وای، نو ارومرو يې بايد په صحيحينو کې هم يادونه شوې وای. له دې امله د ځينو علماوو دا فکر سم معلومېږي، چې صلاة التسبيح له هغو نوو طريقو نه ده، چې د تبع تابعينو په دور کې رواج شوې. تر دې چې ذهبي او ابن جوزي د صلاة التسبيح روايتونه موضوع ګڼلي دي. د دې روايت په راويانو کې د احمد بن داؤد نوم هم دی، چې په کذب باندې تورن دی. همدا راز د ابن سمعان نوم هم په کې دی، چې محدثينو ضعيف معرفي کړی دی.

**يوه عرب ته چې مېلمه ورشي او ډوډۍ ورته راوړي، نو عرب «کلوا» نه وايي، بلکې د «تفضلوا» په ويلو له مېلمه نه د خوراک د پيلولو هيله کوي. دغه راز په هندوستان کې چې کله ډوډۍ راشي، نو داسې نه وايي چې «وخورئ» بلکې «برکتي يې کړئ» او «مهرباني وکړئ» په څېر الفاظ وايي. د دې مقصد مازې د مېلمه عزت او درناوی وي. داسې نه ده، چې کله «وخورئ» وويل شي، نو سړی په عامه طريقه ډوډۍ ته کېني او چې کله «تفضلوا» يا «برکتي يې کړئ» وويل شي، نو لومړی درې سوه ځله د «طعام» کلمه تکراروي، او بيا په جلا انداز کېني او په يوه خاصه طريقه خوراک پيلوي او په خاصه طريقه يې پای ته رسوي.**

**د خبرو دا انداز چې په ټولو ژبو کې رواج دی، د همدې له مخې د صلاة التسبيح په مسئله هم ځان پوهولی شو. په قرآن کريم کې يو ځای ويل شوي «اقم الصلوة» او بل ځای ويل شوي «سبح بالعشی والابکار.» د دې مطلب دا نه دی، چې له اقامتِ صلوة نه يو لمونځ مراد دی او تسبيحِ صلوة نه بل لمونځ. له دواړو کلمو نه مراد هماغه عام لمونځ دی چې له بندګانو نه اللّٰه تعالی ته مطلوب دی او هغه لمونځ دی چې ټول عمر نبي کريم صلی اللّٰه عليه وسلم او ملګرو يې کړی دی. فرق يې يوازې دا دی، چې په يوه وخت کې يې د امر اړخ په پام کې وي نو «لمونځ وکړئ» ويل کېږي او کله بيا د لمانځه په حقيقت او معنويت د تأکيد لپاره د «لمانځه تسبيح وکړئ» ويل کېږي. يانې هغه لمونځ وکړئ، چې د لمانځه روح په کې په بشپړه توګه شامل وي، هغه چې په پوره معنا د خدای تسبيح وي، هغه چې د لمانځه اصل مقصود دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- یو شمېر علماوو د صلاة التسبیح له حدیث نه په دې اساس انکار کړی دی، چې یوازې په څلورو رکعتونو باندې دومره ډېر ثواب د فهم وړ نه دی.

۳- په دې حدیث کې چې کوم الفاظ رانقل شوي دي، په هغو کې د نبوي کلام شان نه لیدل کېږي. د هر چا چې په نبوي احادیثو یو څه نظر وي، د هغه لپاره په دې خبره پوهېدل سخت نه دي، چې د نبي کریم ص کلام عموما په دې اسلوب کې نه وي، څرنگه چې د صلاة التسبیح په روایتونو کې ښکاري.

په دې برخه کې د دې کرښو د لیکوال تحقیق دا دی، چې صلاة التسبیح په خپل ذات کې بې اساسه نه دی، په دې چې پخپله په قرآن کریم کې یې په گڼو ځایونو کې یادونه راغلې ده. البته هغه بڼه یې یقیناً بې اساسه ده، چې خلکو د نجات لپاره د جادویي ذریعې په توگه غوره کړې ده. په قرآن کریم کې په صراحت سره نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته ډېر ځله امر شوی دی، چې «او له لمانځه سره یې تسبیح وایه.» (ق: ۴۰) خو له هېڅ روایت نه دا نه ثابتېږي، چې پیغمبر علیه السلام دې کله دغه ډول «څلور رکعته» لمونځ کړی وي، چې په خلکو کې د صلاة التسبیح په نوم مشهور دی.

همدا واقعه په دې خبره د پوهېدو لپاره بس ده، چې له صلاة تسبیح نه مراد په الایده طریقه ترسره شوی لمونځ نه دی، بلکې هماغه عام لمونځ دی، چې نبي صلی الله علیه وسلم به هره ورځ کاوه. دا ناشونې ده، چې پیغمبر ته دې د خدای له لوري امر وشي او هغه یې په ځای نه کړي. نو د پیغمبر علیه السلام په ژوند کې چې د «صلاة تسبیح» په نوم د الایده لمانځه ثبوت نه لیدل کېږي، نو بیا به ارومرو دا خبره منو، چې هماغه لمونځ د نبي کریم ص صلاة تسبیح و، چې هره ورځ به یې په جومات یا د کور دننه کاوه او ټول عمر یې کړی دی.

د تسبیح لمونځ (صلاة تسبیح) کوم مرموز او جلا شی نه دی. هر لمونځ صلاة التسبیح دی، په دې شرط چې په حقیقي کیفیت سره ترسره شوی وي. دا همداسې خبره ده، چې د شریعت په نورو اعمالو کې یې هم یادونه شوې ده. د شریعت ټول اعمال یوه ظاهري بڼه لري، خو دا اعمال اصلاً له ظاهري پلوه مطلوب نه دي، بلکې د خپل باطني کیفیت له پلوه مطلوب دي. یو عمل که مازې د ظاهري قالب د ادا کولو په غرض ترسره شي، نو د خدای په نزد به یې هېڅ ارزښت نه وي. خو همدا عمل چې د خدای له وېرې او یا د آخرت د فکر له روح نه مالامال شي، نو په بشپړه توگه بل راز شي، او د الله تعالی په نزد ډېر محبوب عمل وگرزي. همدا وجه ده، چې شاوخوا د هر عمل لپاره همداسې الفاظ راغلي دي، مثلاً مبرور حج، د احتساب روژه او داسې نور. مبرور حج یا د احتساب روژه په کومه مرموز طریقه ترسره شوی حج یا روژه نه ده. هر هغه حج چې صحیح وي، هغه مبرور حج دی. دغه راز هره هغه روژه چې حقیقي روژه وي، د احتساب روژه ده.

له حقیقت او کیفیت نه ډک لمانځه لپاره یوازې د صلاة التسبیح لفظ نه دی کارېدلی، بلکې په قرآن کریم کې گڼې نورې کلمې هم ورته راغلې دي، لکه:

- **صلاة وسطي (بقره: ۲۲۸)**
- **صلاة خشوع (مومنون: ۲)**
- **صلاة انابت (روم: ۳۱)**
- **صلاة ذکر (طه: ۲۴)**
- **صلاة تسبیح (نور: ۳۶)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

په عربي ژبه کې د تسبیح معنا پاکي بیانول دي. د خدای په نزد د هغه د لویي بیانولو او نعمتونو د اظهار یوه طریقه دا ده، چې د «کولو» یا «ویلو» په څېر کلمې ورته وکارول شي، بله طریقه دا ده، چې د تسبیح په لفظ تعبیر شي. مثلاً په اردو کې موږ کولی شو، چې د «خدای نوم واخله» په ځای یې «د خدای د نوم پاکي بیان کړه» په الفاظو سره تعبیر کړو، د همدې دوهمې طریقې نوم تسبیح دی.

که د صلاة وسطی معنا دا نه وي، چې کله لمونځ کوئ، نو په پلاني ترتیب کې په بېلا بېلو رکعتونو کې دومره سوه ځلې «وسطی وسطی» ووایئ، یا له صلاة خشوع او صلاة انابت نه مراد دا نه دی، چې په یوه ځانګړي وخت کې داسې لمونځ وکړئ، چې د خشوع او انابت کلمې په کې دومره سوه ځله تکرار شوې وي، نو د صلاة تسبیح معنا څنګه دا کېدلی شي، چې داسې لمونځ وکړئ، چې د تسبیح کلمات په‌کې په ټاکلي ترتیب سره درې سوه ځله تکرار شوي وي؟

لمونځ د خپل حقیقت له پلوه سراسر تسبیح دی. همدا وجه ده، چې په قرآن کریم «**صلوا**» یانې لمونځ وکړئ، ډېر کم ویل شوي او په ځای یې زیاتره «**اقم الصلوة**» (لمونځ قائم کړئ) یا «**سبح بحمد ربک**» (د الله د نوم پاکي بیان کړئ) په څېر کلمو کې امر شوی دی. په دې معنا چې صلاة تسبیح د الایده لمانځه نوم نه دی، بلکې د هر هغه لمانځه نوم دی، چې د لمانځه حقیقت په‌کې په پوره توګه مجسم شوی وي، چې لمونځ کوونکي ته خدای توفیق ورکړي، چې ټول وجود یې د الله د عظمت او لویي په تصور کې ډوب شي، چې کله یې لمونځ د قرآن په اصطلاح کې **صلوة سهو** (ماعون) یا **صلاة کسل** (نساء) نه وي، بلکې سراسر د ذکر او انابت لمونځ وي، نو د هماغه لمانځه بل نوم به صلاة التسبیح وي.

د صلاة تسبیح رواجي بڼه په اصل کې یو کیفي حقیقت په کمي اصطلاحاتو کې د بیانولو هڅه ده. دا سمه ده، چې د دې لپاره چې د عوامو سر پرې خلاص شي، نو دا یې یو اسانه تدبیر دی، خو د دې په خوا کې دا هم واقعیت دی، چې کیفیت د کمیت په ژبه کې نه شي بیانېدی. په تېره په کمي الفاظو کې د دیني کیفیاتو د قیدولو هڅه خو بدعت هم دی چې د خدای او رسول په نزد قطعا مقبول نه دی.

صلاة تسبیح د هغه کیفي لمانځه نوم دی، چې په لفظونو کې نه شي بیانېدی. مګر د تمثیل په ژبه کې ویلی شو، چې دا هغه لمونځ دی، چې په بنده د خدای د عظمت او هیبت شدیده غلبه ناسته وي او په لمانځه کې د قرآن تلاوت او د تسبیح او دعا کلمې د ده لپاره مازې کلمې نه وي، بلکې نبغ په نبغه له خدای سره مکالمه او خبرې اترې وي. د بنیادي قالب له پلوه خو بنده په دې شېبه کې هم په خپل لمانځه کې وي، مګر خدای ته د نیږدېکت غلبې او د کیفیاتو راپورته شوي سېلاب ټول رسمیات له منځه وړي وي. او په دې وخت کې له یوې خوا خدای له خپل ټول جلال او جبروت سره د بنده مخې ته راشي، او له بلې خوا بنده د خپلې عاجزۍ سرمایه په داسې ډول د هغه په حضور کې وغورځوي چې د زمان او مکان ټول قیودات په اوبو لاهو شي. د الفاظو او قالبونو ټول بندیزونه مازې نسبي او اضافي ښکاره شي. انسان وي خو په دې دنیا کې، مګر یوه بل جهان ته ورسېږي او په خپلې ټولې بندګي کې له رب العالمین سره وصل شي. په دې شېبه کې دی تسبیحات نه وایي، بلکې پخپله سراسر تسبیح ګرزېدلی وي. د ده قیام او قعود او رکوع او سجده مازې جسماني عمل نه وي، بلکې ټول وجود یې د خدای په ذات کې د محوه کېدو مترادف شي. دا هغه شېبه ده، چې د بندګي او خدایي سرحدونه دومره رانیږدې شي، ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

وا، قیامت له قیامت نه مخکې راغلی وي. ته وا، له آخرت نه مخکې بنده خپل خدای لیدلی وي.

صلاة التسبیح د ټول ژوند نذرانه ده، نه دا چې د څلورو رکعتونو لنډمهالې کرشمه. دا لمونځ داسې نه کېږي چې انسان دې کوم وخت «نیت کوم د څلورو رکعتونو صلاة التسبیح» الفاظ تېر کړي او قبلې ته دې ودرېږي. دا لمونځ د خدای د بنده له درونه هغه وخت راهسکېږي، چې ټول وجود یې د خدای په وېره او د آخرت په فکر کې ډوب شوی وي، چې ځان یې د خپل رب د رضا لپاره خاورې ایرې کړی وي. د صلاة التسبیح د کولو لپاره باید د خاورې او وینې له دریا نه تېر شې. دا به نه یوازې د لمانځه تصغیر وي، بلکې نعوذبالله د ذوالجلال خدای عظمتونو ته به په کمه سترګه کتل وي، که یې د څو ټاکلو کلمو د څو سوه ځله تکرار په معنا واخلو. عبادت د خدای په حضور کې د بنده ډالۍ ده. د دې عبادت به هماغه تعبیر سم وي، چې د اله العالمین د عظمت او کمال له شان سره برابر وي.




## د شمېرو منطق

مولانا الطاف حسین حالي د خپل استاد مرزا غالب په مرګ وېرنه لیکلې وه، د هغې یوه مسره دا وه:

رحلت فخر روزگار ہے آج

ژباړه: ویاړ د زمانې کډې بار کړې نن

د اردو یوه پروفیسر یو بل «کشف» وکړ، هغه دا چې له پاسنۍ مسرې نه د سید احتشام حسین (۱۹۷۲- ۱۹۱۲) د مړینې نېټه هم راوځي او دا مسره د مرحوم لپاره ټکې په ټکې سمه ثابته شوه.

د اعدادو او ردیف او قافیې منطق هم ډېر عجب دی. په دې سره هر هغه څه ثابتولی شئ، چې په کره حقایقو یې ثابتول ناشوني وي.

یو شاعر د محمد علي جناح ډېر سخت مخالف و. ښاغلی جناح چې کله وفات شو، نو یاد شاعر له لاندې فقرې نه د مرحوم د مړینې نېټه راوایستله:

مر گیا مردود نہ فاتحہ نہ درود

ژباړه: مړ شو مردود، نه فاتحه، نه درود!

خو چې کله یې خپله مېرمنه وفات شوه، نو د هغې د مړینې د نېټې لپاره یې لاندې شعر موزون کړ:

پوچھا جو میں نے غیب سے ہاتف نے دی صدا
آرام گاہ عابدہ خلد بریں میں ہو

ژباړه: چې پوښتنه مې وکړه، نو له غیبو نه پرښتې ځواب راکړ، د عابدې استوګنه دې په عالي جنتونو کې وي.

په دې ډول اعدادي کیسې له قرآن کریم نه هم راایستل شوې دي. قاضي بیضاوي په خپل تفسیر کې د مقطعاتو حروفو تقریبا لسګونه توجیهات کړي دي. په هغو کې یو دا هم دی، چې د حسابِ جمل له مخې د قومونو مرګ او د ژوند موده هم له دې حروفو راوځي.

یو ځل یهود د نبي کریم صلی الله علیه وسلم حضور ته راغلل، نو نبي کریم د الم سوره (البقره) تلاوت کړه. یهودو د الم اعداد حساب کړل، او ویې ویل چې موږ څنګه داسې دین ته غاړه کېږدو او په تاسې ایمان راوړو، چې پخپله د الم له اعدادو معلومېږي، چې ستاسې عمر یوازې یو اویا کاله دی. په دې خبره نبي کریم صلی الله علیه وسلم وخندل. نو یهودو وویل، چې ولې دا خبره سمه نه ده. نبي کریم ص د قرآن کریم نور مقطعات حروف المرا، المص او نور هم ورته تلاوت کړل، او ورته ویې ویل، چې اوس په کې څه وایئ؟ نو یهود خجالت شول او ویې ویل چې اوس خو مو سره ګډوډ کړل. «**خلطت علینا فلا ندری بایها فاخذ.**»

د اکبر په زمانه کې چې په زرو کلونو کې د اسلام د ختمېدو وړاندوینه شوې وه، هغه هم په همدې بنیاد وه، چې شیعه علماوو د قرآن کریم د ټولو سورتونو مقطعات حساب کړي او ۹۹۹ کال یې راایستلی و او نورو درباري علماوو هم ورسره منلې وه. په دې سره یې اکبر په دې یقیني کړ، چې د قرآني شریعت دور ختم شوی دی. اوس یوه نوي شریعت ته اړتیا ده.

د طه په سوره کې ارشاد دی، چې د تېرو خلکو په حالاتو کې ستاسې لپاره پند او عبرت ایښی دی او د قرآن کریم په صورت کې یوه بشپړه پندنامه تاسې ته استول شوې ده، نو له ښکاره حق راتلو وروسته هم چې څوک له حق نه مخ اړوي، د قیامت په ورځ به د ډېر لوی پېټي اوچتول ور له غاړې وي.

په دې ورځ چې په شپېلۍ کې وپوکل شي او خدای ټول مجرمان داسې راټول کړي، چې سترګې به یې له وېرې او ترهې نه کنګل شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي. دغه وخت به د دنیا ژوند دوی ته دومره ناڅیزه او لنډ ښکاري، چې یو بل ته به ورو، ورو سره وايي چې «په دنیا کې به مو په ډېر مشکل سره لس ورځې تېرې کړې وي.» څو يو بل به وايي چې «نه، ستاسې د دنیا ژوند څو مازې د يوې ورځې ژوند و.»

چې کله قیامت راشي نو خدای به غرونه د وړيو غونډې باد، باد کړي او ټوله ځمکه به داسې هوار میدان وګرزوي، چې هېڅ ټيټه او هسکه به نه په‌کې ښکاري. په دې ورځ به ټول انسانان د بلونکي، په بلنه سیده روان وي. هېڅ څوک به په ناز نه ځي. ټول اوازونه به د خدای په وړاندې ټيټ شي. ټول خلک به غلي وي. د پښو له سوکه ترپې پرته به هېڅ اواز نه اورېدل کېږي. په دې ورځ به هېڅ سفارش چاته ګټه ونه رسوي. د ټولو خلکو سرونه به د حی او قیوم ذات په وړاندې ټيټ وي.

په دې ورځ به هغه سړی ناکامه او ناهيلی وي، چې د کوم ظلم پېټی يې په سر کړی وي، او هغه چې په خدای ایمان لري او نېک ژوند يې کړی وي، هغه لره به په دې ورځ هېڅ خطر نه وي.

# دا انسان

**د اسلامي اسپانیه په تاریخ کې کتابونه لیکل شوي دي، له هغې ډلې د يوه کتاب نوم دی:** «اخبار مجموعه فی فتح الاندلس و ذکر امرائها رحمهم الله والحروب الواقعة بها بینهم.»

**دا کتاب غالباً په یوولسمه عیسوي پېړۍ کې لیکل شوی او په ۱۸۶۷ز کې لومړی ځل په مجریط (مادرید) کې چاپ شوی دی.**

**د اموي واکمنۍ په زمانه کې په افریقا کې د وحشي قبایلو د بیا بیا بغاوت په ترڅ کې د کتاب لیکوال لیکلي دي چې «وحشي قبایل به د خپلو واکمنو له کړنو تنګ شول او اکثر به يې د هغوی په ضد بغاوتونه کول. په دې زمانه کې دستور دا و، چې خلیفه او د هغه زامنو ته به چې کله اړتیا وه، نو د طنجه له چارواکو نه به يې داسې څرمنې غوښتلې، چې د بلاربو اوزو ګېډې به ورته ځيرېدې او د هغو له بچو به يې له پوسته کولې.**




**د دې په خوا کې به يې دا شرط هم ایښوده، چې څرمنه باید د شاتو رنګ ولري. نو زیاتره وختونه به**

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې کېدل، چې سل سل اوزې به يې حلالې کړې او په يوه کې به هم له شرايطو سره برابره څرمنه نه پيدا کېدله. دا خبره به د وحشي قبايلو د زجر او خپګان سبب کېدله. (۶۶)

**انسان ته چې کله واک په لاس ورشي، نو د خپلې لويي په زعم کې څه، څه کارونه کوي. د واک په ګدۍ له انسان نه هېر وي، چې د ده په سر هم يو واکمن شته او نيږدې ده، چې په داسې حال کې به د هغه حضور ته وړاندې شي، چې د هغه په مخکې به له يوې اوزې نه هم ډېر بې زوره او له يوه مړ ماشوم نه هم ډېر بې قدره وي. د تاريخ تر ټولو عجيبه تراژيدي دا ده، چې انسان له تاريخ نه درس نه دی اخيستی.**

## د آخرت تصور چې نه وي، نو انساني ژوند د ځنګلي ژوند غوندې شي

په واشنګټن کې د ښوونکو د روزنې او تربيې لپاره د «ويلسن سکول فار ټيچرز» په نوم يوه اداره ده. په دې اداره کې بهرنيانو ته د انګريزي ژبې د ښوونې يوې استادې، د لاتيني امريکا زده کوونکو ته امريکايي روايات او کلتور تدريسول. د ليکچر په پای کې د ګواتماله يوې نجلۍ وويل چې «زما پام شوی دی، چې دلته ځوارلس کلنې نجونې او هلکان له يو بل سره جنسي اړيکې ساتي. او دا راز اړيکې د دوی لپاره ډېرې تر وخت دمخه دي.»

امريکايي استادې په ډېره جذبه ځواب ورکړ:

«په دې دنيا کې زموږ ژوند ډېر لنډ دی او دومره فرصت نه لرو، چې له ځوارلس کلنۍ نه ډېر خپل وخت ضايع کړو.» (امريکا التي رأيت، از سيد قطب)

دا حقيقت دی، چې که د آخرت تصور وباسو، نو ټول اخلاقي بنديزونه او بشري احتياطونه له يوې مخې خپله معنا له لاسه ورکوي. که ژوند همدا د دنيا ژوند وي او بيا انسان د تل لپاره له منځه ځي، نو بيا دې انسان ولې د دنيا د لذتونو او اسايښتونو په برخه کې پابندي او بنديز ته غاړه کېږدي. خو که د انسان په ذهن کې دا خبره کېنول شي، چې له مرګ نه وروسته هم د ژوند تسلسل پاتې کېږي. له مرګ وروسته هم لذت او درد شته، نو اوسنی لنډمهاله دنيا به د انسان لپاره بې معنا شي او د راتلونکي اوږدمهاله ژوند لپاره به هر ډول اخلاقي بنديزونه په خوشاله زړه ومني. وينورډ ريډي ليکلي دي:

«آيا له دې دنيا پرته بله دنيا شته، چې هلته زموږ له اعمالو سره موافقه بدله راکول کېږي؟ دا هغه تصور دی، چې زموږ مفاد ډېر زيات ورپورې غوټه دی. اوسنی ژوند ډېر مختصر دی او خوښۍ يې ډېرې معمولي غوندې دي.

موږ چې کله هغه څه لاسته راوړو چې موږ يې غواړو، نو د مرګ وخت رانيږدې شوی وي. که دا معلومه شي، چې په يوه خاصه طريقه چې ژوند تېر کړو، نو دايمي خوشالۍ مو په برخه کېدی شي، نو له يوه بې عقل يا لېوني پرته به هېڅ څوک هم په هغه طريقه له ژوند کولو مخ ونه ګرزوي.» (Martyrdom of Man, 414)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هغه چې په نحو کې کمزوری و، د تاریخ تر ټولو ستر نحوي شو

## لندمهالي مقبولیت یا نه مقبولیت د تاریخ قضاوت نه اغېزمنوي

مشهور نحوپوه سیبویه (مړ ۱۷۷هـ) په ایران کې نړۍ ته راغلی او په بصرې کې رالوی شو. د ځواني د مهال یوه واقعه یې ده، چې دی د حدیثو او فقهې زده کوونکی و. یوه ورځ د حماد ابن سلمه په مجلس کې ناست و. هغه په زده کوونکو د حدیث املا لیکله. یو حدیث راغی:

**«لیس من اصحابی احد الا لو شئت لاتخذت علیه لیس اباالدرداء.»**

سیبویه په دې وخت کې غږ وکړ: «**لیس ابو الدرداء.**» په دې کار یې حماد په چیغه وویل، سیبویه! ته غلط یې، دې ځای کې استثناء ده (نو ځکه د ابو په ځای ابا راغلی.) سیبویه خپله غلطي احساس کړه. او په زړه کې یې وویل، چې زما نحو ضعیفه ده او باید په دې کې مهارت پیدا کړم. بس د نحوې زدکړې ته یې ملا وتړله. د بصرې او کوفې د نحوي علماوو خلیل، یونس او عیسی بن عمر درسونو ته یې ګونډه ووهله او په دې فن کې یې دومره خواري وکړه، چې بلاخره د دې فن امام شو او د نحوې او ادب په شاذو مسایلو کې د ده د مخې سړی نه و. بیا یې په نحو داسې کتاب ولیکه، چې د خپل اهمیت او لوړتیا له امله د «**الکتاب**» په نوم مشهور دی. د دې فن د علماوو وینا ده، چې د نحوې په فن باندې د «**الکتاب**» د ځواب کوم کتاب چا ونه شو لیکلی. د کسائی په هکله هم دغه ډول یوه واقعه بیان شوې ده.

په اخري زمانه کې سیبویه بغداد ته مخه کړه. په بغداد کې د نحوې مشهور عالم کسائی (مړ ۱۸۹هـ) هم و. هغه د هارون الرشید د زوی امین استاد و. یو ځل د هارون الرشید د وزیر یحیی بن خالد برمکي په نظارت کې د سیبویه او کسائی ترمنځ مناظره وشوه. په دې ناسته کې کسائی د سیبویه په مخکې د عربي دا جمله ولوسته: «**کنت اظن ان العقرب اشد لسعة من الزنبور فاذا هو ایاها.**»

کسائی ورنه پوښتنه وکړه چې «په دې جمله کې د فصیحې ژبې اسلوب څه دی؟» سیبویه ځواب ورکړ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د جملې په پای کې د «ایاها» منصوب ضمیر راوړل جایز نه دی. سمه جمله به داسې وي: «فاذا هو هي.» کسائی وویل: نه، د عربانو په محاوره کې په دواړو طریقو کې شته. بحث زیات شو، نو دواړو د مسئلې د حل لپاره د فصیحې لهجې کلیوال عرب حَکَم وټاکه. له هغه نه یې چې کله پوښتنه وکړه، نو هغه وویل، چې د سیبویه خبره سمه ده.

خو کسائی د شهزاده امین ښوونکی و. بله دا چې دی کوفي و او سیبویه ایرانی. او دا خو معلومه ده، چې عباسي خلفاوو به د کوفې د خلکو خنګ واهه. امین د خپل کوفي استاد په ملاتړ کې له تعصب نه کار واخیست. د دې وضعیت په لیدو هغه کلیوال هم وډار شو او وروسته یې د کسائی خبره سمه وګڼله. اوس خبره لاپسې لانجمنه شوه. تر دې چې سیبویه اندېښمن شو، چې خپل ژوند نه به هم لاسونه ووینځي؛ نو بغداد یې پرېښوده او ایران ته وتښتېده. هلته یې په «بیضاء» کې د خپل ژوند پاتې ورځې تېرې کړې او همدلته یې په څه باندې څلوېښت کلنۍ کې له دنیا نه سترګې پټې کړې.

## پوه به شئ چې درغلي مې نه ده کړې

**د لومړۍ نړیوالې جګړې (۱۸ – ۱۹۱۴) په زمانه کې چې عربي نړۍ د ترکیې د عثماني خلافت له «ګرفت» نه ازادي د ځان لپاره لوی نجات ګڼله، نو په دې وخت کې داسې خلک هم وو، چې د دې ازادي په اوږدمهاله عواقبو پوهېدل او خپل عرب ورونه یې هم خبرول. مثلاً امیر شکیب ارسلان (۱۹۴۶ – ۱۸۶۹) د اسلامي اتحاد ارزښت محسوس کړی و او هڅه یې وکړه، چې عربان د ترکانو په خلاف له بغاوت نه راوګرزوي. خو د دې په عوض کې یې دا ډالۍ ترلاسه کړه، چې د چاپلوس او خاین ټاپې یې پرې ووهلې. د دې ټاپو په ځواب کې ده په خپل یوه شعر کې ویلي و:**

**سیعلم قومي انني لا اغشهم**
**وهمها استطال اللیل فالصبح واصل**

**(ژر به مې قوم پوه شي، چې خیانت مې نه دی ورسره کړی. شپه چې هر څومره هم اوږده وي، سهار په هر حال راتلونکی دی.)**

## انسان هغه څه له لاسه ورکوي، چې تر ټولو ډېر یې حاصلول غواړي

د خلکو منډې رامنډې نن ورځ د څه لپاره دي. خوراک، پوښاک، کور، عزت، خوشحالي، او سوکاله ژوند. هر سړی خپل ټول ژوند د همدې شیانو حاصلولو او پرمختګ ته وقف کړی دی.

خو د مرګ حقیقت ښیي، چې انسان په اوسنۍ دنیا کې خپل مطلوب خورا د لنډې مودې لپاره ترلاسه کوي. د دې شیانو د ترلاسي اصلي مقام هغه دنیا ده، چېرته به چې انسان تلپاتې استوګنه لري. خلکو خپل ټول ځواک د دنیوي ایندې رغونې ته ځانګړی کړی دی، د اخروي مستقبل رغونې ته د هیڅ چا ور پام نه دی. د ژوند په راتلونکي اوږدمهاله پړاو کې هماغه څه انسان له لاسه ورکوي، چې په دې عارضي دنیا کې یې تر ټولو ډېر لاسته راوړل غواړي. څومره عجیبه ده دا محرومي. خو هیڅ څوک په دې خبرو باندې ته غور کولو ته اماده نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library




## «معده د ناروغیو کور دی» او «پرهېز د ټولو درملو راز دی»

دا مقولې نن ورځ هم همدومره رښتیا دي، څومره یې چې پخوا حقیقت درلوده. د روغتیا او تندرستي لپاره ابتدایي شرط دا دی، چې انسان همدومره خواړه وخوري، څومره یې چې معده په اسانی سره هضمولی شي.

ساده خواړه چې غلیظ وي، هغو سره عادت شوی کس ډېر کم ناروغېږي او عمر به یې هم اوږد وي. لطیف خواړه او څښاکونه سره له دې چې ژر هضمېږي، خو معده کمزوري کوي. له لطیفو خوړو د بدن څلورګوني مرکبات خو ښه جوړېږي، مګر دا ډول خواړه ډېر ژر تاثیر مني، نو چې کله ناروغي په انسان برید کوي، د انسان بدن یې په دفاع کې عموما پاتې راځي.

هغه خلک چې طبیعت ته نیږدې له کثیفو خوړو سره یې ځان عادت کړی وي، هغوی زیاتره تندرست موندل شوي دي. دا ډول خلک اکثر اوږد عمر کوي، اعضاء یې قوي وي، هغسې چې د کلیو او باندېو په خلکو کې یې لیدلی شو. ښاري خلک چې له لطیفو خوړو سره عادت وي او څښاکونه ډېر څښي، اکثریت یې غړي کمزوري او عمرونه لنډ وي.

ویل کېږي، چې کثیف طبیعي خواړه ژر نه هضمېږي او بدهضمي پیدا کوي. خو دا خبره د هغه چا لپاره ده، چې ورسره عادت نه وي او چې یو ځل انسان ورسره عادت شي، نو کثیف خواړه هم ژر هضمېږي او څلورګوني مرکبات هم ښه تولیدوي او په روغتیا کې یې هم ډېره لویه برخه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## قرآن

**یو بې ساری کتاب دی.**

## د محمد

**رهبانیت په ټولو ور تېر و.**

## لمونځ

**له خدای نه د ځواک د ترلاسي نوم دی**



***

اچاریه رج نیش په ۱۹۳۱ کې وزېږېده. په ۱۹۵۱ کې یې په ساګر پوهنتون کې په فلسفه کې لیسانس وکړ. نهه کاله یې په پوهنتون کې استادي وکړه. په ۱۹۶۶ کې یې دنده پرېښوده او مذهبي چارې یې پیل کړې.

اچاریه د تظاهر له مذهبیت نه بېزاره دی او له خلکو غواړي، چې عمیق فکر وکړي او حقیقت ولټوي. د ده قول دی چې «خارجي منډې رامنډې کمې کړئ، په دې سره مو دروني تلاش صدمه ویني.» اچاریه دومره مقبولیت موندلی دی، چې د ده له خولې وتلی یو، یو لفظ خپرېږي، د ټولو ویناوو پیتې یې ثبتېږي او د هېواد په ګوټ ګوټ کې په شته مرکزونو کې ټکي په ټکي خلکو ته اورول کېږي.

یو ځل نوموړي په خپله وینا کې وویل: «اوس هم چې څوک ماته رانیږدې شوي دي، د هغو له دې سره سروکار نشته، چې زه څه وایم، بلکې ډېر سروکار یې زما د دوو لفظونو په منځ کې له خالي ځای سره وي. اوس دوی د کرښو ترمنځ تشې لولي او د لفظونو ترمنځ فاصلې اوري. او لفظونه خو هسې یوه پلمه ده.»

دی په دې اند دی، چې زیاتره خلک د خپل چاپېریال رنګ اخلي او څنګه چې چاپېریال وي، هماغسې دوی هم وي. حال دا چې د انسان اصلي کمال دا دی، چې ځان د خوداګاهي مقام ته ورسوي او پخپله خپل ځان ساز کړي. نوموړي یو ځل وویل چې ماشومان خو هر څوک پیدا کوي، تر ټولو مشکل کار د خپل ځان زېږول دي. دلته به د اچاریه رج نیش هغه خبرې راوړو، چې د قرآن، لمانځه او رسول صلی الله علیه وسلم په هکله یې کړې دي:

### د اسلام پیغمبر

«بودا واک او سلطنت پرېښوده. مهابیر مانۍ ته لغته ورکړه. په دې کې شک نشته، چې دا د دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواړو لوی رهبانیت او ترک‌الدنیا وه. خو د محمد ترک‌الدنیا له ټولو نه ور تېره وه. محمد د ځان لپاره داسې ژوند غوره کړ، چې هره ورځ یې باید دنیا ته شا اړولې وای. دا ترک‌الدنیا د یوې ورځې لپاره نه وه، بلکې د هرې ورځې رهبانیت و. په خچرو بار مالونه به ورته راغلل او ده به سمدستي په خلکو ووېشل او بېرته به یې لاسونه تش پاتې شول.»

## قرآن

تاسې ورځپاڼې لولئ، آیا کله مو غور کړی، چې هره ورځ همدا تکراري خبرې لولئ! آیا کله کومه نوې خبره په کې راغلې ده؟ نوې خبرې خو په قرآن کریم راغلې دي.»

## لمونځ

«د مبارکې شپې لپاره هېڅ تول او ترازو نشته، بلکې مبارکه شپه له وخت نه اخوا جلوه ده. د دې لپاره چې ټول کارونه په مبارکه شپه کې پیل شي، ټولو مذهبونو ویلي دي، چې په سهار کې لومړنی کار باید عبادت وشي، تر څو ورځ مو ښه تېره شي. بیا که په کارونو پسې ولاړ شئ، هېڅ پروا نه کوي. او مذاهبو دا هم ویلي دي، چې په خپلو کارونو کې هم وقفې وکړئ. مثلاً اسلام ویلي دي چې پنځه ځله، بیا بیا مبارکه شپه ولټوئ. نو که څوک په ورځ کې پنځه ځله لمونځ وکړي، او په رښتیا یې وکړي، نه دا چې هسې یو عادت او تمرین تکرار کړي، نو په حیرانتیا سره به وګوري، چې ځان به له دنیا نه ماورا حس کړي. ځکه مخکې له دې چې د دنیا ګردونه پرې کېني، دی به بیا بیا خپل ځان وینځي. مخکې له دې چې د دنیا فتنې او فسادونه یې راګیر کړي او مړژواندی یې کړي، بېرته به تازه شي، بېرته به له خدای نه ځواک ترلاسه کړي، بېرته به په خپل باطن کې غوپه ووهي، بېرته به منور شي او په طرب او خوښۍ سره به بېرته دنیا ته راستون شي.

د شپې به هم د مراقبې په حال کې ویده کېږي. نو اوس بیا یوه شپه مبارکه رسۍ ټینګه کړه، د ورځې به دې څو، څو ځله له ګوتې وتلې وي.»

د اچاریه رج نیش په خونه کې چې کوم کتابونه ایښي دي، په هغو کې له مذهب نه تر مارکسیزم او سیاســتپوهنې پــورې هر ډول کتابونه شامل دي. د لینن، کرشنا مورتي، نیچه، سارتر، ګوردګیف، هایډګر او شنکر ټولو اثار د نوموړي په کتابتون کې شته. د ده یو شاګرد وایي، چې «موږ د دې لپاره چې د اچاریه رج نیش معلومات له خپل عصر سره اپــډېټ پــاتې شــي، هــره میاشت شپږ زره هندي روپۍ مصرفوو. اچاریه زموږ لپاره د کمپیوټر غوندې دی. موږ ده تــه کتابونــه ســپارو او دی د دغــو کتابونو هغه حکمت په لنډ ډول موږ ته وایي، چې په دې کتابونو کې راغلی وي. کتابونه لوستل، د هغو تحلیلــول، د هغــو هضمول، د هغو تعبیرول، له دې ټولو کارونو زموږ اوږې سپکې وي.

د اچاریه رج نیش مورنۍ ژبه هندي ده، خو انګریزي یې هم همدومره ښه ده څومره یې چې هندي ښه ده. نوموړی په دواړو ژبو کې غیرمعمولي استعداد لري.»

شري اې ایس رمن چې د اچاریه رج نیش په کمپ کې یې څو ورځې تېرې کړې وې، د پاسنیو خبرو په خوا کې لیکلــي دي، چــې اچاریه انسان ته د باطني سفر (Inner Journey) پیغام ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په فکر سره ژوند وکړئ

حافظ حامد حسن علوي (۱۹۵۹- ۱۸۷۲) د اعظمګړ مشر سړی و. ډېر هوښيار او په خبره پوه انسان و. د دوی په خپلوانو کې به يو کس اکثر په کور کې له ښځو او ماشونو سره ناست و. حافظ صاحب مرحوم چې ډېر ځله په دې حالت کې ليدلی و، نو يوه ورځ يې په ستوغه ژبه ورته وويل: «په ښځو کې مه کېنه، په دې سره دې عقل کمېږي.»

دا مقوله په اوس وختونو کې ماته هغه وخت رایاده شوه، چې کله مې يو ځوان وليده. پخوا دې ځوان يوه معمولي غونډې دنده لرله. خو له تېرو دوو کلونو نه يې خپله دنده پرې ايښې او اوس کاروبار کوي. يوه ورځ مې چې ورسره وليدل، نو داسې مې احساس کړه، چې د ده په پرون او نن کې ډېر لوی فرق راغلی دی. د دندې په زمانه کې دا ځوان ډېر شرمناک او منزوي غونډې سړی ښکارېده. ډېر کم وختونه به داسې کېدل، چې سړی دې د هوښياري خبره ترې واوري. خو اوس مې چې وليده، نو په ده کې اعتماد او باور موجونه وهل. او په هره خبره کې يې د هوښيارۍ سپرغۍ له خولې بادېدلې.

دا واقعيت دی، چې انسان چې څه ډول ژوند تېروي، عقل يې هم په هماغه لحاظ تربيه کېږي. هغه سړی چې په ښځو او ماشومانو کې وخت تېروي، ښکاره ده چې د خبرو او مجلس موضوعات به يې هم بالکل معمولي غونډې وي؛ مثلاً کورنۍ کيسې، موډ او فيشن، ټوکې ټکالې، خوراک، پوښاک او داسې نور. په دې راز خبرو کې د وخت تېرولو پايله به دا وي، چې ذهن به يې په لوړو او ژورو مسايلو کې د فکر کولو تربيه نه مومي. دغه راز د يوه مامور ژوند هم تړلی او پابند ژوند وي. دی پوهېږي، چې په يوه نه يوه طريقه چې خپله مياشت پوره کړي، نو په ټاکلې نېټه به خپله تنخوا ترلاسه کړي. د دغه ډول ژوندطرز له امله په ده کې يو ډول ذهني جمود پيدا کېږي. د دې بالعکس تجارت يو داسې شی دی، چې د انسان لپاره هره شېبه د خواريو او ورتياوو ازمايښتونه وي، انسان هره ورځ له نوو حالاتو سره مخ کېږي. دا شی په انسان کې له حالاتو سره د مبارزې صلاحيت پيدا کوي، د انسان عقل راويښوي، او بيا بيا ځلې د ژوندانه خوراک ور رسوي.

**په پاخه سړک نوی موټر په تېز سرعت روان و. د سړک غاړې ته دهقان په تراکتور کې ناست و، جټکې يې خوړلې او د کروندې ټيټې او لوړې يې هوارولې تر څو ځمکه د کرلو جوګه کړي. د موټر لپاره هېڅ خنډ نه و، خو تراکتور ګام په ګام نوک واهه. او بيا بيا درېدو ته اړ کېده.**

**د موټر په مقابل کې د تراکتور دا حالت په هېڅ درجه کې هم د تراکتور ارزښت نه راکموي. موټر په تيار جوړ شوي سړک منډې وهي. خو تراکتور خپله لاره پخپله جوړوي. يو په ماضي کې سفر کوي، بل د مستقبل په لور خوځنده دی. يو په تاريخ کې ورک دی، بل د خپلو کوششونو په مټ پخپله تاريخ ليکي.**

**د تراکتور په ورو سرعت کې چې کوم عظمتونه پټ دي، د هغه په مقابل کې د موټر تېز سرعت هېڅ حقيقت هم نه لري.**

انسان ته پکار ده چې د خپل کار او مسلک د انتخاب په وخت کې دا فکر ارومرو وکړي، چې د ده ژوند به په هغه کار کې څه ډول تربيه مومي. هماغه مشغله د انسان لپاره سمه مشغله ده، چې د ده پټ استعدادونه په کې رابرسېره شي، د ذهن افقونه يې پراخه شي، په ده کې خوداعتمادي نمو وکړي، په دنيا کې ټول هغه «رزقونه»

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترلاسه کړي، چې خدای ورته په دې دنیا کې برابر کړي دي.

انساني ذهن د حیرانتیا تر کچې بې بریده صلاحیتونه لري. که موږ سمه مشغله انتخاب کړو، نو زموږ د ژوند ترقي به تر وروستی ساه پورې دوام وکړي، او امکانات به یې هېڅ کله ختم نه شي. خو که موږ په یوه محدود او ناقص کاروبار کې خپله پښنه بنده کړو، نو ذهن به مو منجمد پاتې شي. **که اوبه په منګي کې وي، نو ورو په ورو کمېږي، خو همدا اوبه چې په سیندونو کې رواني شي، نو په سېلاب بدلېږي.**

## الله تعالی موږ استولي یو، څو خلک د هغه په لور دعوت کړو

د اسلام له فتحه کولو دمخه عراق د لرغوني ساساني سلطنت یوه برخه و. په ۱۴هـ کې د سعد بن ابي وقاص په مشرۍ کې د اسلام لښکر د عراق په لور وخوځېده او مقابل لوري ته د ساساني پوځ سردار رستم و.

له جنګ نه دمخه، بېلا بېل اسلامي سفیران د رستم دربار ته د خبرو اترو لپاره ورغلل. د هغو له ډلې یو ربعي بن عامر هم و. رستم له ربعي بن عامر نه وپوښتل: «تاسې څه شي ترې دې ځایه رارسولي یاستئ؟» هغه یې په ځواب کې یوه وینا وکړه، د هغې وینا یوه جمله داسې وه:

**«الله ابتعنا لنخرج من شاء عبادة العباد الی عبادة الله ومن ضیق الدنیا الی سعتها ومن جور الادیان الی عدل الاسلام فارسلنا بدینه الی خلقه لندعوهم الیه» (ابن کثیر-البدایة والنهایة، جلد۷، صفحه۳۸)** موږ الله تعالی رالېږلي یو، چې چاته وغواړي، هغه بنده د بندګانو له عبادت نه د خدای عبادت ته راوباسو. د دنیا له تنګې نه یې د پراختیا په لور او د مذاهبو له ظلم نه د اسلام په لور راوغواړو. نو موږ الله تعالی له خپل دین سره د خپل مخلوق په لور استولي یو، چې خلک دې دین ته رادعوت کړو.

## موږ په یوه داسې شي پسې خپل ټول عمر ضایع کړ، چې نه یې په دنیا کې ګټه شته، نه په دې هکله په آخرت کې پوښتل کېدونکې یو

په قادیان کې به هر کال زموږ غونډه کېدله او سید محمد انور شاه صاحب رح به هم په کې برخه اخیستله. یو کال په همدې غونډه کې مولانا صاحب راغی، زه هم ورسره وم. یوه شپه د سهار د لمانځه پر مهال په تیارې کې د هغه خُنګ ته ورغلم، نو ومې لیدل چې شاه صاحب خپل سر په دواړو لاسونو کې نیولی او ډېر غمجن ناست دی. ما ورته پوښتنه وکړه چې حضرت، طبیعت مو څنګه دی؟

ویې ویل: هو، بس ښه دی، د طبیعت څه پوښتنه کوې، خپل ټول ژوند مو ضایع کړ. ومې ویل، حضرت! ستاسې ټول ژوند خو د علم په خدمت

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د دین په خپراوي کې تېر شوی. ستاسې زرګونه شاګردان عالمان دي، مشاهیر دي، چې له تاسې یې استفاده کړې او اوس د دین په خدمت کې لګیا دي. که ستاسې عمر ضایع شوی وي، نو بیا د چا ژوند په کار کې تېر شوی!

ویې فرمایل: زه درته سم وایم، عمر مو ضایع کړی دی!

ومې ویل: حضرت، خبره څه ده؟

ویې فرمایل: زموږ د ژوند، زموږ د ویناوو، زموږ د ټولو هلو ځلو خلاصه دا ده چې په نورو مسلکونو باندې د حنفي مذهب ترجیح ثابته کړو، د امام ابو حنیفه (رح) د مسایلو لپاره دلایل وتراشو او د نورو امامانو په مسایلو باندې د خپل مسلک ترجیح زباده کړو. همدا دی زموږ د هڅو، ویناوو او علمي ژوند ټول محور.

اوس چې غور کوم، نو ګورم چې په څه شي کې مو خپل ژوند تباه کړ؟! ایا ابو حنیفه زموږ ترجیح ته محتاج دی چې موږ په هغه کوم احسان وکړو؟ هغه ته چې الله تعالی کوم مقام ورکړی دی، هغه مقام به پخپله په خلکو خپل زور مني، امام اعظم خو موږ ته هېڅ محتاج نه دی.

او د امام شافعيؒ، امام مالکؒ او امام احمد بن حنبلؒ او نورو مسلکونو د فقهاوو په مقابل کې چې موږ د امام ابوحنیفه ترجیح ثابتوو، نو د دې کار ګټه څه ده؟ بې له دې یې بله هېڅ ګټه هم نشته، چې خپل مسلک «**صواب محتمل الخطاء**» ثابت کړو، یانې دا چې په اصل کې مسلک سم دی، خو د خطا احتمال په کې شته. او د نورو مسلک «**خطاء محتمل الصواب**» ثابت کړو، یانې دا چې ناسم مسلک دی، خو احتمال شته چې په حق وي. له دې وراخوا بله هېڅ نیتجه نه لري، زموږ ټول بحثونه، تدقیقات او تحقیقات چې موږ په کې مصروف یو.

بیا یې وفرمایل:

ګوره جانانه! له دې راز نه خو به په حشر کې هم پرده پورته نه شي، چې کوم مسلک صواب و او کوم مسلک خطا و. اجتهادي مسایل نه یوازې دا چې په دې دنیا کې یې فیصله نه شي کېدی، په دنیا کې هم موږ له خپلو ټولو څېړنو او ګروېږنو وروسته فقط همدومره ویلی شو، چې دا هم سم دی او هغه هم سم دی. یا دا چې دا صحیح دی، خو احتمال لري چې غلط وي، او هغه بل غلط دی خو احتمال لري چې صحیح وي. په دنیا کې خو هسې هم دا شته. په قبر کې به هم منکر نکیر دا پوښتنه نه کوي چې رفع الیدین حق و او که د رفع الیدین پرېښودل حق و؟ په لوړ غږ آمین ویل حق و او که په پټه یې ویل حق و؟ په برزخ کې به هم په دې هکله پوښتنه نه کېږي او په قبر کې به هم دا سوال ونه شي.

د حضرت شاه صاحب رح الفاظ دا وو:

الله تعالی به نه امام شافعي رسوا کړي نه ابوحنیفه، نه مالک او نه امام احمد بن حنبل؛ چاته چې الله تعالی د خپل مذهب علم ورکړی او په چاپسې یې چې د خپل مخلوق یوه لویه ډله لګولې ده، چا چې د نېغې لارې رڼا ځلورو خواوو ته خپره کړې ده، د چا چې ژوند د سنت د رڼا په خپرولو کې تېر شوی، الله تعالی به له هغوی نه یو هم رسوا نه کړي، چې د حشر په میدان کې یې ودروي او دا معلومه کړي چې ابوحنیفه سم ویلي و او که شافعي ناسم ویلي و او یا د دې بالعکس؛ دا کار نه کېږي.


نو یو څه چې نه په دې دنیا کې ګل کېږي، نه په برزخ او نه په محشر کې؛ په هماغه شي پسې موږ خپل ټول ژوند ضایع کړ، خپله انرژي مو مصرف کړه او هغه چې د صحیح اسلام دعوت و، ټولو پرې اجماع کړې وه او هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسایل چې ټول پرې یوه خوله وو او د دین هغه ضرورتونه چې د ټولو په نزد مهم وو، هغه چې انبیاوو یې دعوت راوړی و او موږ ته یې د عامولو امر شوی و او هغه منکرات چې ختمول یې په موږ فرض شوي و، نن ورځ هغه دعوت خو په ټپه دربدلی دی، د دین دغه ضرورتونه خو د خلکو له سترګو پناه دي او خپلو او پردو یې ځېرې ورمسخه کړې دي او هغه منکرات چې باید موږ یې ختمولو ته متې رانغاړلې وای، هغه خو نن ورځ په زیاتېدو دي، ګمراهي په خورېدو ده، د الحاد څپې رامستې دي، د شرک او بت پرستي سیوری په غوړېدو دی، د حرام او حلال امتیاز په ختمېدو دی، خو موږ لګیا یو په دې فرعي او فروعي بحثونو کې.

بیا حضرت شاه صاحب وفرمایل، «له همدې غمجن ناست یم او داسې محسوسوم چې ګنې خپل عمر مې ضایع کړ.»

**ټول انسانان په بنیاد کې یو راز جسماني ساخت لري. خو بیا هم دوه انسانان کټ مټ د یو بل مشابه نه دي. تر دې ډېره عجیبه خبره دا ده، چې دغه شخصي انفرادیت یوازې د نن ورځې په خلکو کې نه دی. بلکې هر هغه انسان چې یو وخت په دې ځمکه باندې پاتې شوی دی، په بشپړ ډول د منفرد شخصیت خاوند و.**



**هر انسان بې مثاله او نه تکرارېدونکی دی. همدا حال به په مستقبل کې هم وي.**

**بې شمېره شواهدو ثابته کړې ده، چې د انسان په جسم او ذهن کې له تېرو سل زره کلونو نه هېڅ راز پاموړ بدلون نه دی راغلی. د ډېرې د زمانې انساني جسم چې د طبیعي حالاتو په مقابل کې څه ډول غبرګون ښوده، د نن ورځې انسان هم هماغسې عکس العمل ښیي. مثلاً د سپوږمۍ حرکتورباندې اغېز کوي.**

**الوتکه چې په تېز سرعت سره موږ د ورځې له رڼا نه د شپې تیارې ته نناسي، نو د انساني جسم په غړو کې کشمکش پیلېږي. دغه راز واقعات د ارتقا پلوه پوهانو ټول قیاسات د بطلان کندې ته غورځوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اسلام دنیا ته څه ورکړل؟

په قرآن کریم کې شرک ته «**ظلم عظیم**» (۳۱: ۱۳) ویل شوي دي. خو په مقابل کې یې د توحید په هکله ارشاد دی، چې همدا توحید بشپړ صداقت دی (۱۰: ۳۲) له لرغونو زمانو نه د بشري ژوندانه نظام په شرک باندې استوار و. ټول انبیاء چې د خدای له لوري راغلي، د همدې لپاره راغلي وو، چې انسان د شرک په بدیو پوه کړي او د توحید په بنیاد د ژوندانه نظام په پښو ودروي، تر څو په انسان باندې د دنیا او آخرت د کامیابیو دروازې وازې شي. خو قومونو د انبیاوو د خبرو سکه چلېدو ته پرې نه ښوده. رسول صلی الله علیه وسلم لومړنی پیغمبر دی، چې د خدای د ځانګړي نصرت له مخې یې دا کامیابي په برخه شوه، چې شرک یې د اقتدار له مقامه وغورځاوه او د توحید په بنیاد یې یو بشپړ انقلاب راوست. «**وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لاَ تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلّه**» دا انقلاب په اوومه میلادي پېړۍ کې منځته راغی، او د دې انقلاب یوه پایله دا وه، چې په بشري تاریخ کې یې لومړی ځل د کایناتي ښکارندو تقدس ته د پای ټکی کېښوده او د انسانیت لپاره یې د هغه مادي خیر لاره هواره کړه، چې **معاصر ساینس** بلل کېږي.

د معاصر تمدن د مؤرخینو په وړاندې یو سوال دا هم و، چې د فطرت خزانې له اولې ورځې نه په ځمکه کې موجودې وې او په انسان کې د اړتیا وړ ذهني استعداد هم له لرغونې زمانې نه موجود و، نو بیا د بشري تمدن لپاره د دې خزانې په کارېدو کې دومره وخت ولې ولګېده. انسان له زرګونو کلونو راهیسې د ځمکې په مخ ژوند کوي. خو د ځمکې له طبیعي خزانو نه په اوسني طرز د استفادې تاریخ صرف څو سوه کلونو ته رسېږي. مشهور تاریخپوه آرنلډ ټاینبي (۱۹۷۵- ۱۸۸۹) د دې سوال ډېر په ځای ځواب ویلی دی، چې په پخوا زمانو کې انسان ځمکې ته د خدای په سترګه کتل. د ځمکې په مخ هر شي د انسان لپاره د خدای درجه لرله. انسان به چې دې پدیدو ته کتل، نو د هغو په هکله به یې په زړه کې د تقدس او پرستش جذبه راپیدا کېدله. د ده په ذهني تابلو کې د بشر د خدمت لپاره د ځمکنیو سرچینو د کارولو جذبه نه شوی راټوکېدی. د ټاینبي په قول، دا د توحید (Monotheism) عقیده وه، چې د کایناتو تقدس یې له منځه یووړ او هر شی یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوه خدای مخلوق وګرزول. په دې سره هغه ذهني فضا پیدا شوه، چې انسان سیارو ته د خدای په ځای د خپل خادم په سترګه وکتلی شي او په هغه کې د تصرف عمل ترسره کړي.

هغه ذهن چې کاینات یې د تسخیر او تدبر موضوع وګرزوله، په ابتدا کې د اسلام له تاثر نه په عربانو کې راپیدا شو. د دې فکري انقلاب یوه سکه هغه وه، چې مرکز یې سیسلي او اسپین و. په دې هېوادونو کې د توحید د ناسیده پایلې په توګه، د ساینسي پلټنو او د ځمکنیو خزانو د استعمال ذهن رازرغون شو او بلاخره یو ستر او شانداره تمدن رامنځته شو. همدا عربي تمدن په دیارلسمه پېړۍ کې د اټالیا له لارې اروپا ته مخه کړه او ورو په ورو په اوولسمه او اتلسمه پېړۍ کې د انقلاب سبب شو. معاصرو مؤرخینو په لویه کچه دا منلې ده، چې د اروپا د رنسانس یا نشأة ثانیه لومړنی عامل ( First Cause) د عربي پیغمبر د پیروانو هغه کارنامې وې، چې هغوی په اسپانیه کې د خپلې واکمنی په زمانه (۷۱۱- ۱۴۹۲) کې ترسره کړې.

بریفالټ لیکلي دي چې **«د اروپا د پېشرفت هېڅ داسې پلو نشته چې د اسلامي تمدن پرېکنده اغېزې دې پرې نه وې پرتې. خو دا اغېزې هېڅ ځای هم دومره روښانه او مهم نه دی، څومره چې د هغه ځواک په راټوکېدو کې دی، چې د معاصرې دنیا د ځانګړي او خپلواک ځواک، او د هغې د بریا تر ټولو ستر راز دی، یانې ساینس او ساینسي فکرطرز.»**

وروسته بریفالټ خپله خبره په دې ټکو کې راټوله کړې:

IT IS HIGHLY PROBABLE THAT BUT FOR THE ARABS, MODERN INDUSTRIAL CIVILIZATION WOULD NEVER HAVE ARISEN AT ALL.

Making of humanity, P. 202

اغلب احتمال دا دی، چې بې له عربانو به معاصر صنعتي تمدن هېڅ کله نه و رامنځته شوی.

کایناتي تقدس چې ختم شو، نو پایله یې یوازې دا نه وه، چې د طبیعي دنیا په اړه د انسان لیدلوری بدل شو، بلکې د انساني اړیکو نورې څانګې هم له دې بدلون نه اغېزمنې شوې. هغسې چې په طبیعي دنیا کې به چې کومه ښکارنده ډېره روښانه او څرګنده ترسترګو شوه او په مشرکانه نظام کې به یې هغې ته د خدایي درجه ورکړه، په همدې ډول د انساني عظمتونو په هکله هم مافوق الفطرته عقیدې جوړې شوې وې. پادشاهان د خدایانو زامن ګرزېدلي وو. له مذهبي پیشوایانو سره د خدای ځانګړې اړیکه فرض کړای شوې وه. په کوم انسان کې به چې لویي ولیدل شوه، د هغه په اړه به دا یقین پیدا شو، چې ګنې داسې ځانګړی اسماني حیثیت لري، چې هغه حیثیت نورو ته نه دی ورکول شوی.

له اسلامي انقلاب وروسته چې د شرک نظام وشلېده او توحید غلبه وموندله، نو له انساني عظمتونو سره د اعتقاداتو د غوټه کولو ذهنیت هم ختم شو. ټول انسانان د یوه لوړ خدای مساوي مخلوق وګرزېدل. د دوو انسانانو ترمنځ د فرق هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنیاد پاتې نه شو، چې له امله یې د تاریخ له نامعلومو زمانو راهیسې انسانیت د کمتري او برتري په مرض کې مبتلا شوی و او انسان له خپل حقیقي شرف نه محروم و. د اسلام پیغمبر چې د توحید په بنیاد کوم انقلاب راوست، هغه د خدای برتري او د هغه په مقابل کې د ټولو انسانانو برابري داسې ثابته کړه، چې لرغونی روایتي نظام دړې وړې شو. د انسانیت قافله په یوه نوې لاره رهي شوه. د خلکو عقاید بدل شول. د پېشوایي او سرداري پخوانی نظام خچ پچ شو. هغه سلطنتونو له خاورو سره یو شول، چې خلک یې د ځان په هکله په فوق الفطرت عظمتونو گروهمن کړي وو او په هغو به یې واکمني کوله. په دې سره په تاریخ کې لومړی ځل د بدلون نوې پاڼه واوښته، چې په ټوله دنیا کې د یوه نوي انساني پېر پیلامه شوه.

روسو (۱۷۷۸- ۱۷۱۲) خپل کتاب په دې مشهوره جمله پیل کړ:



**«انسان ازاد پیدا شوی و، خو زه یې په زولنو کې بندیوان وینم.»**

دا جمله په حقیقت کې د دوهم خلیفه عمر فاروق رض (۶۴۴- ۵۸۱) د هغې جملې بازگشت و، چې عمر له روسو نه یوولس سوه کاله پخوا مازې د یوې افسانوي نظریې په حیث نه، بلکې د یوه لوی سلطنت د واکمن په حیث خپل ماتحت افسر ته ویلې وه:

«**متی استعبدتم الناس وقد ولدتهم امهاتهم احرارا**» ژباړه: تا له کله نه خلک خپل غلامان کړي، حال دا چې خپلو میندو ازاد زېږولي دي.

بشري تاریخ ته د اسلام د پیغمبر د دې پېرزوینې اعتراف نامسلمانو څېړونکو ښه په زغرده کړی دی. ډاکټر هیرالال چوپړا (کلکته پوهنتون) په خپله یوه مقاله کې لیکي:

MODERN HISTORY ATTRIBUTES LIBERTY, EQUALITY AND FRATERNITY TO BE THE OUTCOME OF THE FRENCH REVOLUTION, BUT THE FIRST PERSON TO PROCLAIM IT WAS THE FOUNDER OF ISLAM FOURTEEN CENTURIES AGO.

Illustrated Weekly of India, April **15, 1973**

(c) ketabton.com: The Digital Library

معاصر تاریخ ازادي، برابري او ورورګلوي په فرانسوي انقلاب پورې تړي. خو لومړنی انسان چې دا ټول حقونه یې اعلان کړل، څوارلس سوه کاله دمخه د اسلام بنسټګر و.

دغه واقعات چې په طبیعي عالَم او بشري عالَم کې پېښ شول، په اصل کې د توحید په نتیجه کې د راغلي انقلاب دنیوي پایلې وې. له امریکا نه یو دایرة المعارف چاپ شوی، چې «Man and His gods» نومېږي. په دې کې په مختلفو ادیانو مقالې لیکل شوې دي. د اسلام په هکله مقاله کې عیسوي لیکوال د اسلامي انقلاب د دې پایلو اعتراف په لاندې ټکو کې کړی دی:

ITS ADVENT CHANGED THE COURSE OF HUMAN HISTORY (P. 389)

## د اسلام راتګ د بشري تاریخ لوری ور بدل کړ.

د رسول الله او صحابوو په لاس یو داسې انقلاب راغی، چې اصلاً خو په توحید او اخرت ولاړ انقلاب و. خو له ځان سره یې ډېرې اوږدمهاله دنیوي پایلې هم راوړې. د پیغمبر علیه السلام په لاس د راغلي انقلاب له دنیوي پایلو نه ترټولو مهم نتایج هغه دي، چې په لرغونې زمانه کې یې ټولنیز او اجتماعي نظام داسې بدل کړ، چې د هغو حالاتو ټغر ورسره ټول شو، چې په هغو کې د حق د دعوت کار خورا ډېر ستونزمن شوی و. اوس د حق د دعوت هغه کار ډېر ساده او اسان کار ګرزېدلی دی، چې په پخوا زمانه کې د هغه کار لپاره راپورته شوي خلک د فرعون له دې ننګونې او ګواښ سره مخ شوي وو:

## «زه به حتماً ستاسې لاسونه او پښې الټه غوڅ کړم او ټول به په دار وځړوم.»

دغه راز، دې انقلاب د لرغونې زمانې هغه فکري چوکاټ بدل کړ، چې قیاساتو او توهماتو ته یې د علم درجه ورکړې وه. په کایناتو کې د خدای پټې تصدیقوونکې نښانې خلکو ته ښکاره شوې. پایله یې دا شوه، چې د رښتیني دعوت هغه کار چې پخوا به ورته د معجزاتي استدلال اړتیا پېښېدله، اوس د دې امکان پیدا شو، چې پخپله د بشري علم په مټ ثابت او په دلایلو استوار شي.

په اوومه میلادي پېړۍ کې چې د تاریخ د لوري د بدلېدا کوم بهیر پیل شوی و، په اوسنۍ زمانه کې هغه خپل وروستي اوج ته رسېدلی دی. د خدای د دین په خاطر د کارکوونکو لپاره اوس په بشري وسله‌کوټ کې هر ډول تاییدونکي وسایل موجود دي. قانوني او ټولنیزو انقلابونو اوس د دې فرصت برابر کړی دی، چې د اسلامي دعوت کار په داسې ازاد میدان کې ترسره شي، چې د مخنیوي لپاره یې نه فرعون شته او نه یې کوم نمرود مخه نیولی شي. د حقایقو هغه دنیا چې اوسمهال د انسان د علم برخه ګرزېدلې، نه یوازې نور ادیان بې‌اعتباره ثابتوي، بلکې په مثبت انداز کې یې د حق او رښتینولۍ ټول دلایل هم راجمع کړي دي.

دا یو ډېر پراخه مضمون دی، خو په دې ځای کې به موږ د دې انقلاب د ځینو خاصو نتایجو یادونه وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۱ – سیاسي بنسټونه له فوق الفطري اعتقادونو بېلول

حضرت ابراهیم علیه السلام څلور زره کاله مخکې د لرغوني عراق په پلازمېنه (اُر) کې په خلکو غږ وکړ، چې یوازې یو خدای دی چې د ګټې او زیان واکمن دی. په دې کارونو کې یې هېڅ ملګری او سیال نشته. نو تاسې یوازې له هغه نه خپل حاجتونه وغواړئ او یوازې د هغه عبادت کوئ. د توحید د دغه دعوت په خلاف د هغه وخت مشرک پاچا نمرود کلداني دومره شدید غبرګون وښوده، چې ابراهیم علیه السلام یې د اور لمبو ته وغورځاوه. نن ورځ هم په هندوستان کې د شرک عقیده په ډېره لویه کچه پالل کېږي. خو که نن ورځ تاسې د ابراهیمي دعوت له بیرغ سره راپورته شئ، نو د نوې ډېلي واکمن به له تاسې سره هغسې برخورد ونه کړي.

د دې وجه د زمانې بدلون دی. د نمرود په زمانه کې شرک یوه سیاسي عقیده ګرزېدلې وه. خو نن ورځ شرک مازې یوه محدوده مذهبي عقیده ده. نمرود، په پخوا زمانه کې د نورو پادشاهانو په څېر په خلکو کې دا عقیده کېنولې وه او په هغوی یې واکمني کوله، چې دی د لمر خدای، مظهر دی؛ نو د همدې لپاره د اقتدار لپاره داسې فوق الفطري حق ورکول شوی دی، چې نورو ته نه دی ورکول شوی. د دې بالعکس د هندوستان د اوسنیو واکمنو په نزد دغه ډول عقیده په سیاسي نظام پورې هېڅ تعلق نه لري. اوسنیو واکمنو د ولسي رایې په بنیاد د واک حق ترلاسه کړی دی، نه د فوق الفطري عقیدې په اساس. همدا وجه ده، چې د توحید په دعوت کې هغوی د خپل واک لپاره هېڅ ډول نظریاتي خطر نهویني، حال دا چې نمرود د دغسې عقیدې په خورېدو کې خپلې سیاسي ریښې د غوڅېدو په حال کې لیدلې.

په پخوا زمانه کې به چې کله یو پیغمبر راپورته شو، نو اکثریت وختونه به یې په لومړي پړاو کې لا د وخت له اقتدار سره تصادم پیل شو او بې معنا غوندې مشکلات به یې په لاره کې خنډ او اغزي شوو. د دې وجه له سیاسي بنسټونو سره د فوق الطبیعي عقایدو همدا پیوستون و. په پخوا زمانو کې به پادشاه ولس ته دا ګروهه ورکوله او په هغوی به یې واکمني کوله، چې دی ګواکې د خدای اولاده دی، خدای په ده کې حلول کړی دی. په داسې فضا کې به چې کله د سوچه توحید نعره راهسکه شوه، چې نو پادشاه به لیدل، چې دغه نعره د ده سیاسي استحقاق د بې اعتبارۍ په څېړو وهي. او د همدې اعتقادي پېچلتیا په سر به پادشاه د حق له داعي سره لاس و ګرېوان شو.

اسلام ثابته کړه، چې هر ډول فوق الفطري اقتدار تنها د خدای په لاس کې دی او دا اعلان یې وکړ، چې ټول انسانان برابر دي او هېڅ انسان په بل انسان فضیلت نه لري. په دې سره اسلام سیاسي بنسټونه له اعتقادیاتو بېل کړل. اوس سیاسي حکمراني تنها سیاسي حکمراني ده او د توحید له مسئلې سره هېڅ نېغه اړیکه نشته.

د اسلام د دغه فکر په بنیاد چې په عربو کې کوم انقلاب راغی، هغه له اسیا نه افریقا او بلاخره اروپا ته وغځېده. په اتلسمه پېړۍ کې په فرانسه او امریکا کې جمهوري انقلابونه د همدې انقلاب بازګشت و. تر هغه وروسته د بدلون دغه عمل تر وروستي بریده بشپړ شو. اوس په خپل بشپړ صورت کې هغه وخت را رسېدلی دی، چې یو داعي د توحید له دعوت سره راپورته شي او بې له دې چې ځان د سیاسي اعتقادیاتو په پېچلتیا کې ښکېل کړي، د خدای تر بندګانو پورې د حق خبره ورسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې مثال داسې دی، چې یو کس په ولس کې دا خبره مشهوره کړي چې دی ګواکې د یوه پېري شاګرد دی او دغه پېری هره شپه راځي او ده ته د طب رموز ورښیي او په دې ډول خپل طبي تجارت په لاره واچوي. په داسې ماحول کې که یو څوک دا غږ پورته کړي، چې د طب علم په طبي کالجونو کې زده کېږي، نه له پېریانو، نو یاد طبیب به ارومرو له دغسې غوږځنګ سره سخت مخالفت ته مخه کړي. خو په همدې کلي کې به له طبي کالج نه فارغ طبیب له دې تحریک سره هېڅ دښمني ونه لري.

## ۲ – د بیان ازادي

په پخوا زمانه کې چې دنیوي عظمتونو ته فوق الطبیعي فکر کېده، د همدې پایله وه، چې عامو وګړو د بیان ازادي نه لرله. بس د یوه سړي ژبه به د قانون ژبه وه. اسلام چې کله د غیرالله لپاره د فوق الطبیعي عظمتونو تصور ونړاوه، نو په ټوله دنیا کې یو نوی پروسیس پیل شو. سره له دې چې دا کار له هغه وخت سره په شدید ټکر کې و، نو له دې امله د دې پروسیس بشپړېدو زر کاله ونیول. خو هغه شی چې په پخوا زمانه کې یې د منلي حقیقت حیثیت خپل کړی و، نن ورځ هغه دومره بېدلیله شوی دی، چې په ټوله دنیا کې د هغې د دفاع څوک نشته.



د جاپان تاریخ په دې برخه کې خورا پند آمیزه مثال راته لري.

د شپاړسمې پېړۍ په پای کې د پرتګالیانو په لاس عیسوي مذهب په جاپان کې پښه کېښوده او په هېواد کې یې غځونې وکړې. دا د پادشاهي زمانه وه. په ۱۶۱۲ کې یو شاهي فرمان ورکول شو، چې په هغه کې عیسویت او د هغه تبلیغ په جاپان کې غیرقانوني اعلان شو. تر دوو سوو کلونو پورې په دې فرمان باندې په ډېرې بې رحمۍ سره عمل وشو. تر دې چې له جاپان نه یې د عیسویت لمنه په بشپړه توګه ورټوله کړه.

خو په همدې موده کې یو بل عمل هم په لاره و. اسلام چې بشري تاریخ ته کومه ټېله ورکړې وه، هغه اروپا ته لاره وکړه او په اتلسمه پېړۍ کې خپل وروستي سیاسي اوج ته ورسېده. فردي ازادي او د بیان ازادي منلي بشري حقونه وګرځېدل. دا افکار چې لومړی په فرانسه کې مرتب شول، ورو په ورو یې په ټوله دنیا خپلې اغېزې وپاشلې. تر دې چې په ۱۸۷۳ کې جاپان اړ شو، چې د مسیحیت خلاف قانون بېرته منسوخ کړي او د هر چا لپاره یې د بیان بشپړه ازادي ومنله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې زماني بدلون د دعوت او تبليغ په وړاندې ټولې دروازې وازې کړې. اوس په ټوله دنيا کې د الهي دين اعلان وکړه او په هېڅ ځای کې هم د داعي په ژبه او قلم باندې بنديز لګوونکی څوک نشته. البته د دې امکان دروازې اوس هم بندې نه دي، چې موږ پخپله د خپلې ناپوهي له امله ببرته په کوم نوي عنوان هماغه ستونزې د اسلام په مخکې خنډ کړو، چې خدای د اسلام په ذريعه ختمې کړې دي. هېڅ بندوست او انتظام، چې هر څومره په لوړه کچه هم وي، د هېڅ چا لپاره هم د دغسې ناپوهۍ د امکان مخه نه ډب کوي.

## ۳- طبيعي ښکارندې د تسخير او تدبر موضوع ګرزول

کايناتي ښکارندې په تېرو ټولو معلومو زمانو کې د عبادت موضوع ګرزېدلې وې. اسلام د لومړي ځل لپاره په دې بريالی شو، چې دا پديدې د تسخير او تدبر موضوع وګرزوي. تر څو چې انسان دې پديدو ته د خدای په سترګه کتل، د هغو مخې ته په سجدو پروت و. خو کله چې پوه شو، چې دا هر څه مجبور او مخلوق مظاهر دي، نو په هغو باندې د پوهېدو لپاره يې تحقيق او څېړنو ته مخه کړه. پايله يې دا شوه، چې په انسان باندې د طبيعي علومو دروازې پرانيستل شوې. خدای چې په خپلو تخليقاتو کې کومې تصديقي نښانې ايښې وې، هغه يوه، يوه رابرسېره شوه. تر دې چې کله شلمه پېړۍ راغله، نو هغه وخت راورسېده، چې قرآن کريم يې ډېر وړاندې په دې ټکو کې وړاندوينه کړې وه: «موږ به ژر خپلې نښانې د اسمانو او ځمکې په لر او بر او خپلو ځانو کې ور ووينو تر څو ورته ښکاره شي چې هغه حق دی.» اوسمهال دا وړاندوينه په دومره لويه کچه واقعيت ګرزېدلې ده، چې هغه خبرې چې د ماضي د انسان لپاره يې د ايمان بالغيب حيثيت درلوده، نن ورځ د انسان لپاره د ايمان بالشهود درجې ته رالوړې شوې دي.

په پخوا زمانه کې انسان طبيعت د ساده پېښو يوه ټولګه ګڼله، خو نن ورځ معلومه شوه، چې طبيعت په خورا مغلقو او خورا حکيمانو اصولو ولاړ دی. دا نظام په دومره کلکو بنيادونو چلېږي، چې بې د يوه عظيم خالق له منلو يې هېڅ توجيه شونې نه ده. پخوانو فلسفيانو به ويل، چې د خدای په څېر د يوه ازلي وجود باندې د ايمان په ځای موږ ولې همدا کائنات ازلي ونه ګڼو؟ خو نويو څېړنو (مثلا د بيګ بانګ تيوري) دا ليدلوری بې بنياده ثابت کړی دی. معاصر ساينس موندلې ده، چې دنيا په يوه خاص وخت کې پيدا شوې ده. ګواکې اوس د يوه ازلي او ابدي خالق له منلو پرته هېڅ چاره نه پاتې کېږي. پخوا فکر کېده، چې د کاينات بېلابېلې طبيعي، کيمياوي او بيولوژيکي پديدې مختلف فطري ځواکونه سمبالوي. خو له نيوټن وروسته د دې ځواکونو شمېر دريو ته راورسېده. د جذب قوه، مقناطيسيت او هستوي انرژي. خو په دې نيږدې وختونو کې په اټوم کې يوه جادويي ذره (Charmed Particle) کشف شوه او له دې سره د تعدد نظريه هم له منځه ولاړه. اوس فکر کېږي، چې يو واحد ځواک دی، چې د فطرت د ټولو چارو مسؤليت ورله غاړې دی. ګواکې د شرک په ملاتړ کې علمي بنياد نړېدلی دی او اوس له توحيد پرته بله هېڅ لاره د انسان لپاره نه ده پاتې شوې. له ژوند وروسته مرګ پخوا د ثبوت وړ نه بلل کېده، خو اوس په دې برخه کې ساينسي ثبوتونه موندل شوي دي. تر دې چې بې مذهبه علما هم اوس داسې کتابونه ليکي، چې عنوان يې وي: له ژوند وروسته ژوند (Life After Life).

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۴ – د غیرعلمي فکرطرز پای

په تېرو ټولو زمانو کې غیرعلمي یا توهماتي فکرطرز په دنیا سیوری غوړولی و. د دې فکرطرز ځانګړنه دا ده، چې بې له څېړنې او پلټنې یوه خبره مني. په پخوا زمانه کې دې غیرعلمي فکرطرز خلکو ته فرصت ورکړی و، چې ډېر په اسانه د ځان لپاره یو نه یو ذهني دېوال پیدا کړي، چې د هغه ترشا له حق دین نه ځان پټ کړي. د مکې له فتحې وروسته چې کله له کعبې نه بتان مات کړای شول، نو د اسلام د دې غلبې په لیدو د مکې بت پرستو ته پکار وه، چې سمدستي توبه وکړي. خو هغوی د دې په ځای دا کلی پرېښوده او غرونو ته یې پناه یووړه. هغوی په دې باور وو، چې اوس به ارومرو په مکه کوم بلا راغورځي او د مسلمانانو د استیصال کوم کار چې دوی پخپله ونه کړ، هغه به بتان سرته ورسوي. دوی دا فکر ونه وکړ، چې که په بتانو کې ځواک وای، نو مسلمانان به یې ولې پرېښودل چې په مکه کې پېښه کېږدي؟

ساینسي انقلاب په اصل کې د توهماتي فکرطرز په ځای د حقیقي غور او فکر نوم و. د کایناتو ټول نظام په خورا مستقلو بنیادونو ولاړ دی، نو طبیعي خبره وه، چې د کائناتي علم پرمختګ د تحلیلي استدلال او حقیقت پسندانه څېړنې مزاج پیدا کړ. په پخوا زمانه کې خلکو دې کې هېڅ ستونزه نه لیدله، چې د خپلې توهم پرستي او غیرعلمي فکرطرز له امله یوه غیرواقعي خبره هم ومني. خلکو ډېر په اسانه په خپل ذهن کې یوې بې بنیاده عقیدې ته داسې ځای ورکولی شوی، ته وا ثابت شوی حقیقت اوسي. خو نن ورځ انسان له حقیقت نه د کم شي منلو ته هېڅ کله هم نه راضي کېږي. دې ذهني فضا په تاریخ کې لومړی ځل ټولې دروازې یوازې د حق دین په مخ خلاصې کړې دي، په دې چې له دې پرته هېڅ دین نشته، چې د حقیقي تحلیل او حقیقت پسندانه ارزونې په معیار دې پوره وخېژي.

دا نوې ځمکه چې د اسلام په حق کې تیاره شوه، مسلمانانو پخپله له هغې نه ډېره کمه استفاده وکړه. البته په دې ځمکه کې تولید شوي ثمرات هغوی ته هم ورسېدل. مثلاً همدا هغه څه و، چې د اسلام د مطالعې لپاره د لرغوني طرز ختیځپوهنې ته یې د پای ټکي کېښوده. له صلیبي جګړو وروسته مسیحي اروپا په لوی لاس د اسلام د تاریخ او د اسلامي لارښوونو په ورانولو لاس پورې کړ. تر پېړیو، پېړیو دا کار روان و. تر دې چې ټول لویدیځ ورنه پورمامور شو. د ساینس له راتلو دمخه خلکو په دې کې د اعتراض وړ څه نه لیدل. خو د ساینس په مټ داسې حقیقت پسندانه فکرطرز راپیدا شو، چې د څېړنو دغه میتود یې بې معنا وګرزاوه. د لرغونې ختیځپوهنې د خاتمې عمل د ټامس کارلایل (۱۸۸۱-۱۷۹۵) په زمانه کې پیل او د شلمې پېړۍ په وروستۍ نیمایي کې بالکل پای ته ورسېده.

## ۵ – د افسانوي فکرطرز په ځای تاریخي فکرطرز

په پخوا زمانو کې به د روایت او تاریخ ترمنځ فکر نه و. خلکو به یوه بې بنسټه افسانه هم همداسې منله، لکه یو ثابت شوی تاریخي واقعیت چې باید ومنل شي. ساینسي او علمي لیدلوري چې کله د حقیقت پسندي ذهنیت وزېږاوه، نو ورسره په طبیعي ډول دا ذهن هم پیدا شو، چې بشري واقعات د تاریخ له عینکو وځیرل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تاريخي څېړنې دا بهير تر مذهبه هم ورسېده او هغه فن راپيدا شو، چې د عالي تنقيد (Higher Criticism) په نوم پېژندل کېږي. د تاريخ په دې څانگه کې چې کله مختلف مذاهب چاڼ او غلبېل شول، نو معلومه شوه، چې د لرغونې زمانې ټول مذاهب له تاريخي لحاظه بې اعتباره دي. له اسلام وروسته، په ټولو مذاهبو کې عيسويت په تر ټولو نيږدې زمانې پورې تعلق ساتي. خو د دې مذهب حال هم دا دی، چې د حضرت مسيح عليه السلام د وجود هېڅ تاريخي ريکارډ په معاصر تاريخ کې نه ليدل کېږي. د مسيح عليه السلام په هکله د معلوماتو يوازينۍ سرچينه هغه لنډ انجيلونه دي، چې پخپله د هغو تاريخي استناد هم مشتبه دی. د مذاهبو په کتار کې فقط اسلام دا خصوصيت لري، چې د پروفيسر هټي په قول، د تاريخ په کامله رڼا کې (WITHIN THE FULL LIGHT OF HISTORY) پيدا شوی دی. د دې مذهب ټول شيان له هره اړخه د تاريخ په معيار برابر دي. اسلام په ټوله معنا، يو تاريخي واقعيت دی، نه د ناثابتو رواياتو ټولگه.

په پخوا زمانه کې به تاريخي ثبوت ډېر ارزښت نه درلوده. خو د نن ورځې انسان هغه شی د غور قابل نه گڼي، چې د تاريخ له معيار سره برابر نه وي. دې صورتحال خلکو ته د اسلام د جذابه کولو لپاره دومره پراخه ميدان پرانيستی دی، چې تر دې پخوا يې امکان نه درلود.

## ۶– د اسماني توجيه لټون

له خدای نه د منکرو خلکو هڅه دا وه، چې د ځمکنيو واقعاتو توجيه پخپله د ځمکې په حالاتو کې ولټوي. مثلاً ژوند د زميني عناصرو د تعامل پايله گڼل. خو نويو شواهدو دا ډول خبرې له يوې مخې باطلې ثابتې کړې دي. اوس ساينسپوه مجبور دی، چې د ځمکنيو پېښو لپاره اسماني توجيه ولټوي. مثلاً د ارتقا د لرغونې نظريې په ځای اوس د پينس پرميا (Panspermia) نوم په خولو کې اوړي را اوړي. د دې نظريې له مخې، ژوند د ځمکې په مخ خودبخود نه دی پيدا شوی، بلکې له لوړې فضا نه زموږ کرې ته په قصدي ډول استول شوی دی. ويل کېږي، چې د فضا په کومه برخه کې غالباً تر موږ ډېر پرمختللی «تمدن» شته، چې ځمکې ته يې د ژوند ميکروبونه رااستولي دي.



بله دا چې د فلکياتو له پراخې مطالعې معلومه شوې ده، چې «عالم بالا» له موږ نه بې تعلقه او بې عقل او بې شعوره عالَم نه دی. داسې قراين هم ليدل شوي چې ښيي، د فضا په کومه برخه کې تر موږ ډېر ځيرک موجودات ژوند تېروي. هغوی د خپلو لوړو ارتباطي وسايلو په مټ پرلپسې زموږ له ځمکې سره په ارتباط کې دي. په نيږدې وختونو کې د علم يوه نوې څانگه منځته راغلې ده، چې راډيويي ستورپوهنه (Radio Astronomy) بلل کېږي. د ستورپوهنې د دې نوې څانگې مقصد فضا ته زيگنالونه استول او له فضا نه د راتلونکو راډيويي څپو مطالعه کول دي. د ساينس په ډگر کې په ترقي‌يافته

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېوادونو کې ګڼې داسې اداري جوړې شوې دي، چې د بېلا بېلو تدابيرو په مټ په دې هڅه کې دي، چې له ځمکې ور اخوا د کايناتو په يوه بله برخه کې مېشتو د عالي ذهن له موجوداتو سره اړيکه ټينګه کړي. د دې کوششونو پايله چې هر څه شي، خو له دې نه دا ثابتېږي، چې د معاصر انسان لپاره د خدايي الهام تصور اوس داسې ډېر نادر شی نه دی، چې هېڅ دې په هغه باندې فکر کولو ته هم تيار نه وي.

د فطرت کشف او د کايناتو تسخير په اوسنۍ زمانه کې د عيش او عشرت بې شمېرې نوې دروازې پرانيستې دي. انسان داسې شاندار تمدن جوړ کړ، چې په معلوم تاريخ کې په ځمکه باندې هېڅ کله نه و جوړ شوی او د ارام او راحت داسې سامانونه يې برابر کړل، چې پخوا انسان په خوب کې هم نه وو ليدلي.

خو د پرمختګ اوج ته له رسېدو وروسته انسان ته معلومه شوه، چې په اوسنۍ دنيا کې هغه ژوند نه شي جوړېدی، چې له وېرې او وير او عبثياتو او معاصيو خالي وي. دې پرمختګ د فطرت ښکلی توازن ګډوډ کړ. په زړښت، ناروغي او مرګ باندې انسان برلاسی نه شو. حکومتي نظام او قانوني مقررات د دې لپاره بس نه شول، چې انسان په نظم او دسپلين کې وساتي. د ماشيني تمدن کثافاتو بحر او بر له فساد نه ډک کړل. مادي سامان آلاتو انسان ته خوشالي او سکون ورنه کړل. او داسې نور.

له دې تجربې وروسته په ټوله دنيا کې يو نوی خوځښت راپيل شوی دی. انسان له ماديات ستړی شوی او په غيرمادياتو کې خپل سکون او هوساينه لټوي. انسان له خارجي دنيا بېرته راستون شوی او يو ځل بيا يې خپلې دروني نړۍ ته مخه کړې ده. دې کوشش د مذهب او ارواپوهنې علم ته بالکل نوی اهميت وربښلی دی. د نن ورځې انسان بېرته په هغه مقام کې دی، چې بنده ته د خدای او مذهب خبرې وښودل شي او هغه پرې سنجيده غور وکړي. په لرغونې زمانه کې ډېر کم شمېر «حنيف» وو، چې د حقيقت په لټون کې وو. نن ورځ يوه لويه دنيا د حقيقت په لټون پسې لالهانده ده. دا ذهني زمينه په غيرمستقيمه توګه د اسلام زېږنده ده. خو عجيبه خبره دا ده، چې له دې صورتحال نه د استفادې په برخه کې د اسلام پيروان له ټولو نه شاته برېښي.

داسې بې شمېره شيونه شته چې په اوسنۍ زمانه کې يې د رښتوني دين د تبليغ او اشاعت بالکل نوی ميدان پرانيستی دی. نن ورځ د سياسي جبر او ذهني خنډ څخه ازاد بنده د خدای پيغام اعلانولی شي. مګر دا چې موږ پخپل جهالت کې بيا په کوم نوي نوم د وخت له چارواکو سره هماغه شخړې راواخلو، چې خدای د اسلامي دعوت غورځنګ ترې خوندي ساتلی و.

## ۷– د بيان سائنسي اسلوب

په دې برخه کې يوه خبره د دعوت د اسلوب په اړه ده. په قرآن کريم کې د حق دعوت د فطرت په ساده ژبه بيان شوی دی. د «**افي الله شک فاطر السماوات والارض**» له ژبې سره د لرغونې زمانې تعليميافته انسان ډېر بلد نه و. هغه خو به يا له جادو او کوډو نه متاثره کېده او يا له خيالي فلسفو نه. همدا وجه ده، چې زموږ پخوانيو صوفيانو به په رهبانيت او

(c) ketabton.com: The Digital Library

اشراق کې د خپل دغه ذوق د خړوبولو چاره کوله او د متکلمینو دا هدف به په یوناني فلسفې پوره کېده. د قصه‌ګویانو ډلو د همدې مقصد لپاره بې شمېره عجیبې او غریبې کیسې پنځولې وې او د هغو په مرسته یې د اسلام الف لیلی ترتیب کړه.

خو اوس وضعیت په بشپړ ډول بدل شوی دی. اوسمهال د ساینس له انقلاب وروسته، هماغه ژبه او اسلوب د وخت معیاري اسلوب ګرزېدلی دی، چې څوارلس سوه کاله پخوا قرآن کریم غوره کړی و. دا زموږ په حق کې د الله تعالی ډېره لویه مرسته ده. اوس خو موږ نه دې ته اړتیا لرو، چې په بې معنا غوندې روحاني تمرینونو کې وخت ضایع کړو او نه په قصه‌ګویي او د فلسفه‌پنځونې په برخه کې د کمال په ښودلو کې. په اوسنی زمانه کې خو د قرآن کریم دعوت د دې کتاب په ساده فطري اسلوب کې د خلکو مخې ته اېښودل کېدی شي. که د قرآن او حدیث ساده ترجمې، په نبوي سیرت او د صحابوو په حالاتو په واقعاتي اسلوب لیکل شوي کتابونه په مختلفو ژبو کې مرتب شي او په ټوله دنیا کې خواره شي، نو همدا کار هم په دنیاوالو باندې د حجت د اېښودلو لپاره کافي دی.

### ۹ – د وسایلو خدایي خزانه

وروستۍ خبره دا چې په اوسنۍ زمانه کې د علم پرمختګ او د چاپ اختراع د دعوتي چارو د ترسره کولو لپاره د لایتناهي امکاناتو دروازې وازې کړې دي. د حضرت مسیح اواز، د هغه مبارک په زمانه کې د فلسطین له یوه کلي دباندې نه شو وتلی، خو نن ورځ د مسیح علیه السلام پیروان په یوه وخت کې له دوو زرو نه په زیاتو ژبو د مسیحي مذهب خپراوي ته کار کوي او تر ټولې نړۍ پورې پرلپسې خپل اواز رسوي. په پرون او نن کې دا فرق په اصل کې د زمانې فرق دی. نن ورځ داسې پراخه فرصتونه ایجاد شوي دي چې د ځمکې له یوې ګوښې نه په ټوله نړۍ کې د دعوت چارې تنظیمېدی شي. د اړیکو د نویو ابزارو کشف دعوتي چاره د محلي پیغام رسونې له دور نه د نړیوالې پیغام رسونې دور ته ورسوله.

په معاصر صنعتي عصر کې مسلمانان د خپلې اقتصادي پسماندګي له کبله دا وس نه لري، چې د دیني دعوت د خپراوي لپاره له نویو امکاناتو په اعلی کچه استفاده وکړي. خو الله تعالی په اسلامي هېوادونو کې د پټرولو خزانې راوخوټولې او د مسلمانانو اقتصادي پسماندګي یې پرې جبران کړه او د دې توان یې ورکړ، چې د دغې فریضې تر ټولو ستره بیه هم پرې کړای شي او په انتهایي بشپړ شکل دوام ورکړای شي.

زموږ رب زموږ له مخې سیاسي او فکري خنډونه هم اړولي دي او اقتصادي خنډونه هم. له دې درې اړخیز نصرت وروسته هم که مسلمانان د دعوتي کار لپاره نه راپورته کېږي، نو بیا دې ښه پوه شي، چې دعوتي مسؤلیت ته له شا اړولو وروسته که دوی یو بل کار په هر څومره لویه کچه هم ترسره کړي، د خدای له ګرفت نه ځان نه شي ژغورلی.

## وروستۍ خبرې

په لرغوني زمانه کې د شرک عقیده (د غیرالله فوق الفطري لویي) د غالبې عقیدې په حیث خپره وه، مثلاً هغسې چې نن ورځ د انساني ازادي تصور په ټوله دنیا کې د غالبې عقیدې حیثیت خپل کړی دی. دې وضعیت په پخوا زمانو کې بې شمېره مصنوعي مسایل پیدا کړي وو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې له هغو ځنې یوه مسئله دا وه، چې د توحید داعیان به اړ وو، چې د حق پیغام د رسولو لپاره د اور او وینې له طوفان نه تېر شي.

د آخرالزمان پیغمبر صلی الله علیه وسلم له برکته یو داسې انقلاب راغی، چې شرک یې د غالبې عقیدې له چوکۍ نه راوغورځاوه او له هغه وروسته یو نوی تاریخي عمل پیل شو. د اسلام له راتلو وروسته شاوخوا په زرم کال کې دې انقلاب په دوو لارو مزل وکړ. د دې انقلاب مذهبي اړخ په اسلامي دنیا کې خوندي پاتې شو. او دنیوي اړخ یې، له اسلامي دنیا نه بېل شو او غربي دنیا ته یې مخه کړه. او هلته یې لا ډېر پرمختګ وکړ. تر دې چې د نولسمې پېړۍ په وروستۍ نیمایي او د شلمې پېړۍ په ابتدایي نیمایي کې د دې انقلاب دنیوي اړخ خپل وروستي کمال ته ورسېده. په اوسنۍ زمانه کې جمهوریت، د بیان ازادي، ساینسي لیدلوری، ټول د همدې مثالونه دي چې په حقیقت کې د اسلامي انقلاب دنیوي اړخونه یا یې سیکولر نتایج دي.

د اسلام په تاثر کې راغلي دې انقلاب په نوې دنیا کې د اسلام د توسیع او خپراوي لپاره نوې دروازې پرانیستې. له یوې خوا دا امکان پیدا شو، چې د توحید د پیغام رسولو کار په ډېر قوت او ځواک سره په بشپړ ازاد ماحول کې ترسره شي. بلې خواته د چاپ او نویو مخابراتي وسایلو په تاریخ کې لومړی ځل دا امکان پیدا کړ، چې د اسلامي دعوت کار په نړیواله کچه منظم شي. خو په همدې وخت کې یوه حادثه پېښه شوه. په اوسنۍ زمانه کې د اسلام په نوم راپورته شویو تحریکونو د دعوت په ځای د سیاست لوری ونیوه. دوی د وخت له واکمنو سره ښکرونه وجنګول او د ځان لپاره یې تر نویو سرلیکونو لاندې هماغه مشکلات راولاړ کړل، چې د اسلام زرکلن بهیر د تل لپاره له منځه وړي وو.

د اسلام په تاریخ کې هېڅ پېښه دومره المناکه نه ده، څومره چې دا پېښه المناکه ده، چې په اوسنۍ زمانه کې راپورته شویو شاوخوا ټولو اسلامي خوځښتونو سیاسي زور ازمایي ته کار ووایه او ډېر بې ځایه یې اسلام د اقتدار په مقابل کې ودراوه. یوه تحریک له ابتدا نه د سیاست ډګر ته ور ودانګل، او بل تحریک بیا وروسته دې «مقدس جهاد» ته ورتاو شو. او ټیک په هغه وخت کې چې د تاریخ عمل خپل وروستي حد ته رسېدلی و او زموږ لپاره یې د دعوتي کار عالیشان میدان پرانیستی و، موږ په خورا ناداني کې یوې داسې سیاسي جګړې ته لاسونه ورواچول چې مسلمانانو ته یې هېڅ پایله په لاس نه ورتله، نه دیني، نه دنیوي. اوس د دې تېروتنې یوازنۍ جبیره دا ده، چې له سیاستبازي نه بشپړ لاس واخیستل شي او تر نړیوالو پورې د قرآن او سنت د پیغام رسولو کار سمدستي پیل شي.

**پای**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**